>>> یوځای لیکل شوي، هرکله چې دې د زده کړې توان له لاسه ورکړ زوړ یې، هغه که شل کلنۍ کې وي او که یا هم اتیا کلنۍ کې وي.<<<

# د رڼا دریڅه

سید عبدالله نظامی د فیسبوکی لیکنو ټولګه!!!

لیکنه: سید عبدالله نظامي

راټولونه او ترتیب: اجمل هیوادمل


بسم الله الرحمن الرحيم

## زما خبري :

لکه ځنګه چې موږ په ربښتيني ژوند کې کوښښ کوو ښه او لوستي ملګري ولرو همداسي بايد په مجازي دنيا (سوشل ميډيا) کې څو چنده کوښښ وکړو چې لوستي,منلي او په مسايلو اګاه خلک ملګري کړو که له يوي خوا سوشل ميډيا زموږ قيمتي وخت را بربادوي له بل اړخه بايد موږ هم يو څه تري حاصل کړو او دا هغه وخت شوني ده چې ښه او متدين خلک وڅارو •

د سوشل ميډيا له پيله تر اوسه کوښښ کوم او کړى مي ده چې ښه اشخاص پيدا او تعقيب يي کړم چې خوشبختانه پکې بريالى شوى يم يو له دغو اشخاصو څخه سيد عبدالله نظامي ده هر کله چې په فيسبوک ليکنه کوي نو ليکنه يي ډيره مقنع هر اړخيزه او په دلايلو استواره وي چې هر شخص کولى شي ډير څه تري اخذ کړي مګر په تاسف سره زموږ ډيرى ځوانان يا علمي قدرونه ملګري کوي نه او يا يي موندلى نشي په دغه خاطر مي اراده وکړه چې د نظامي صيب ځيني ليکني راټولي او د کتاب په بڼه يي نشر کړم تر څو هغو خلکو ته ورسيږي چې د ځوان علمي شخصيت له ليکنو محروم دي.

قلم يي هسک او روان اوسه!!!

اجمل هېوادمل

پکتيا مرکز ګرديز ابراهيم خيل

❖ غـچ اخسـتل دویـم وار پـه هماغـه کچـه کـړاو دی لـه څـه چـې تـه لـومړی ځـل زورېـدلی یـې. خـدای تـر ټولـو ښـه انتقـام اخسـتونکی دی، ملامـت ور وسپاره او ته ترې ځه.

--------

❖ د روانـي کـراری یـوه اغېزناکـه درملنـه دا هـم ده چـې انسـان هـرې پېښـې او هـرې خبـرې تـه غبرګـون ونـه لـري. د احساسـاتو کـابو د ځـان خوندیتوب مهمه لاره ده.

--------

❖ د ودانی پر وره ځړېدلي دړه لیکل شوي:

د لـوی فکـر څښـتن پـر نظریـو او نوښـتګرو مفکـرو غږیـږي، د منځنـۍ کچـې وګـړي پـر پېښـو بحثونـه کـوي، او د ټیټـې کچـې انسـانان د خلکـو پـه اړه خبرې کوي.

---------

❖ یـو عـالم پوښـتل کېـږي د کـوم دلیـل لـه مخـې مـوږ ویلـی شـو چـې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ښه مشر او رهبر و؟

ځـواب ویـونکی پـه اوس کـې د یـوه مشـهور امریکـایي لیکـوال او پوهنتـوني اسـتاد، دوه کتابونـه وریـادوي چـې پکـې د مشـرتابه ځـانګړنو او ښـه رهبـر پـه تـړاو څېړنـه او ارزونـه شـوې. پـه دغـو څېړنـو کـې معلومـه شـوې چـې تـر ټولـو بریـالی مشـر هغـه دی چـې خپلـو خلکـو تـه ریښـتیا وایـي، پـر کـړو ژمنـو ولاړ وي، او تېر ایستونکی نه وي.

عـالم دغـو څېړنـو تـه پـه اشـاره وایـي زمـوږ رسـول الله پـه خپـل ژوندانـه د ریښـتینولۍ، امانـت سـاتنې او نرمـو اخلاقـو لـه املـه د امـین نـوم ګټلـی و، هغـه نـوم چـې نـا مسـلمانو وګـړو هـم پـرې بـاور درلـود نـو ځکـه ویلـی شـو چـې هغـه د نړۍ په مشرانو کې تر ټولو ښه مشر و.

----------

❖ د ژمنــو مــاتول او پــر خبــره نــه ودرېــده لــومړی د همدغــه مــاتونکي ځــټ کــبروي، ځکــه د تــل لپــاره خلکــو کــې بــاور بــايلي کــه يــې هــر څــومره عمــر او علم ډېرېږي.

څــه چــې خــالق تعــالی پــرې ټينګــار کــړی تــرې ســر غــړول، حتمــي ده چــې سزا لري.

"و اوفوا بالعهد ان العهد کان مسئوولا (سوره اسراء)"

------------

❖ کــه يــو څــوک پــه ناســته لمــونځ کــوي، د بــدعاتو تــور پــرې مــه پــورې کــوئ، ښــايي د ولاړې وس بــه نــه لــري. کــه يــو څــوک د مرســتې لاس غځوي ريښتيا به اړمن وي، تول اړمن سوالګر نه دي.

کــه چــا د حــق وينــا درســره نــه بدرګــه کولــه معنــا يــې دا نــه ده چــې حــق پلــوی نــه دی، کومه جدي وېره به لري.

خــو کــه د پوهنتــون اســتاد پــر فېســبوک ليکلــو کــې املايــي تېروتنــې درلــودې دا دليــل يــې مــه منــئ چــې ګــواکې پــه بيــړه بــه يــې ليکلــي وي يــا يــې تليفــون پښــتو نــه لري.

ســړي/ســړې تــه بايــد پيغــام ورســول شــي ځکــه اســتاد د نــورو لپــاره لاربښــود دی.

-----------

❖ د ژونــد تجربــه دا ده کــه کــوئ لار ورکېــده پکــې وي، کــه تــل ليکــل کــوئ تېروتنــې ورســره ملــې دي، کــه د نــورو خوشــالي غــواړئ د خپل زړه درد ورسره تړلی دی.

لنــډه يــې دا، هغــوئ چــې کــار کــوي تېروتنــې کــوي هغــه چــې تيروتنــې يــې نــه وينو د کار او زيار څرک يې هم نشته.

----------

❖ انځــور راتــه وايـــي، زمــوږ ځښــتن تعــالی نــږدې او ځــواب ويــونکی دی، نــو هيلـــي مـــو د مخلـــوق پرځـــای خپـــل رب تـــه وغـــوږوئ زرغـــوني بـــه شي.

- فإستغفروه ثم توبوا إليه إن ربي قريب مُجيب".❀💜

------------

❖ کـه يـو چـا لـه خنـدا سـره سپارښـتنه درتـه لرلـه او بيـا يـې وويـل، خفـه نشـې تـوکـــه مـــې درســـره وکـــړه. پـــوه شـــه د زړه خبـــره يـــې وه او درتـــه يـــې ورسوله.

-------------

❖ زمـــوږ ځـــان غوښـــتنه هيڅکلـــه چاتـــه زمـــوږ پـــه اړه د حـــق ويلـــو اجـــازه نـــه ورکوي.

ځان غوښتنه د انسان په ختـه کې ده، او د عمر په ډېرېدو وده کوي.

-----------

❖ د پردېسی د ماښام غوري وې،

يـــوه ويـــل اه څـــه ماشـــومتوب و، د ژونـــد بـــلا خوندونـــه پريمـــانی او ارزنـــی وې دريغه که يو وار بيا راشي.

بـل ويـل د وطـن لـه سـپېرو شـګلنو دالانونـو ځـار شـم سـپوره دي وي خـو چـې د کلـــي پـــر ډبـــه مـــازيګری وي. دريـــم پکـــې د خپلـــې مســـتی د دوران ســـاز وغږوه ويل يې جګړه وه او لس مې پر يوه سمڅه له پېښو پرې ايسته.

------------

❖ د سهار  چايو ته ټول انديوالان سر وهلي بر وهلي راټول شول،

شـــونډې يـــې وتلـــې وې د ځينـــو رنګونـــه لا ځـــای تـــه نـــه و راغلـــي، يـــو بـــل تـــه يـــې حيران حيران کتل.

د ماشومتوب ارمانجن له څو توبو ایستلو وروسته خوب واوروه، کټ مټ کېسه یې وکړه چې ماشوم یم د دیوانو له وېرې غونج شوی یم ادکي کیسه راته کړې چې که ویده نشې د ځنګله دیوان دا وخت تر کلي راځي هغوی چې سترګې غړوي خیر یې نشته وایي کرۍ شپه ړچ نیولی وم تر سهاره مې خوب رانغی.

بل د خوب اورولو ته داړه شو، ویل یې خوب مې لیده چې پولیس راپسې دي کډوال نیسي او بیرته یې خپلو وطنونو ته لېږي، نو دومره ځغاسته مې له ویرې سره کړې چې توبه، ناکراره شپه وه.

دریمه وویل دا څه ډول شپه وه، پر ټولو یو ډول خپسې کېناستلې، ما خوب لیده چې زه پوځي یم دوه سړي جنګي/ګوریلایان مو تر امنیتي څوکی رسیدلي نښه ویشتونکي دي مور په دوه متره خونه کې لس تنه د سر ساتلو لپاره ټول شویو د ساه ایستل لا راته ګران وي.

دا لومړی ځل و چې زمور د پردېسانو بندار کې په نا پوهیدلي ډول ریښتیا وویل شول، او هیچا ونه ویل کاش پخوانی وخت بیا راشي، د تودو شنو چایو پر ګوټ هر یوه ویل «الحمدلله علی کل حال»

-----------

- ❖ د بدو ورځو دې منطق ته هم باید یو څوک په ذهني ډول تیار وي، که سوځېدئ ټول خلک به د اوبو راوړلو په پلمه درنه ځي.

-----------

- ❖ انسانان د خپل داړ لپاره یوازې د زغم ځواک لري، که پرې وپوهیږي خوار به نشي.

هیڅکله نه وایم « له ویرونکو شپېو سره مخ شوم» ښه ده چې ووایم« دغو شپېو کې زه وډارېدم.» مسولیت منل، ځان پېژندل دي، هغوی چې ځان وپېژانده خپله لاره موندلی شي.

------------

- ❖ یو چا ته د هغه د ګناه او نیمګړتیا له امله پېغور مه

ورکوئ.

د الله تعـــالی ژمنـــه ده، پېغـــور ورکـــونکی انســـان بـــه تـــر هغـــه نـــه مـــري چـــې هماغه کار پرې نه وي شوی چې ده پرې بل ته پېغور ورکړی و.

رســـول الله صـــلی الله علیـــه وســـلم ویلـــي: «مـــن عیـــر أخـــاه بـــذنب لـــم یمـــت حتـــی یعمله.»

------------

❖ دې انځـــور تـــه لیکـــل شـــوي، کـــه تـــه ارام او بـــې غرضـــه ژونـــد هـــم کـــوې یو څوک پیدا کېږي چې ودې پاروي.

نو خپله کراري او زغم ساتل په کار دي، شر په هر حالت در رسیږي.

------------

❖ کـــه ستاســـو مبـــارزین لـــه ورځنـــي خوبـــه پـــر ســـره غرمـــه وېښـــیږي او د کار ټاکلي ساعتونه ونه لري، د ولس د وېښتابه هیله ناچله ده.

نظام جوړول د منضبطو انسانانو کار دی.

------------

❖ یـــوه چـــارواکي تـــه وایـــم دا خـــو ډېـــر پرېـــوتي اخـــلاق دي چـــې د سیاســـت لپـــاره ښـــکنځلمار کرایـــه کېـــږي او پـــر ټـــویټر او فســـبوک مســـتعارو نومونو سره هر خوا داړل کا.

صـــاحب راتـــه وایـــي بـــاور دې وشـــه کـــه دوی تـــه څـــوک معـــاش ورکـــوي، دا ټـــول د خدای خدمت کسان دي.

ښکنځل هم خدای خدمت شو؟

اعوذ بالله، یو ظاهرا متشرع انسان او بیا داسې وینا..

------------

❖ خبرې ښې دي تر ملغلرو؛

لـــه پیړیـــو پیړیـــو د نـــړۍ د زور واکـــو نظـــامونو د سانســـور تګـــلارې چـــې ګـــواکې هـــر څـــوک د خبـــرې کولـــو حـــق نـــه لـــري او یـــا دا چـــې واکمـــن هـــر څـــه وایـــي بایـــد ورســـره بدرګـــه شـــي د اوســـنۍ نـــړۍ او پـــه اصـــل کـــې د اســـلامي اصـــول ســـره سمې نه خوري.

قران کریم په بیا بیا انسانانو ته د ښو خبرو او استدلال سپارښتنه کوي.

«ادعُ إِلىٰ سَبيلِ رَبِّكَ بِالحِكمَةِ وَالمَوعِظَةِ الحَسَنَةِ وَجادِلهُم بِالَّتي هِيَ أَحسَنُ؛

«خلـــک پـــه نرمـــۍ، هنـــر او نیکـــو لارو خپـــل خـــدای تـــه ور وبلئ،اســـتدلال او مناظره وکړئ.»

وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسْنا؛ له خلکو سره په غوره بڼه خبرې وکړئ.

فَلْيَتَّقُـــوا اللّهَ وَلْيَقُولُـــواْ قَـــوْلاً سَـــدِيدا؛ الهـــي پرهېزګـــاري خپلـــه جامـــه وګرځـــوئ او په زغم او استقامت وغږیږئ/پخه خبره وکړئ.

کلـــه چـــې ستاســـو خـــالق تعـــالی تاســـو تـــه د غـــوره خبـــرو او اســـتدلال حـــق در کـــوي، نـــو انســـان د خپلـــې واکمنـــۍ د بقـــا او خونـــدیتوب لپـــاره پـــه کـــوم دلیـــل د وینا د ازادۍ مخه نیولی شي؟

------------

❖ د یوه مشهور ناول څو کرښې:

" نـــه غـــواړم څـــوک مـــې پـــه بشـــپړ ډول درک او وپېژنـــي. غـــواړم، یـــو نـــا معلـــوم ژونـــد او ګونګـــه نـــړۍ ولـــرم. د نـــورو لـــه ســـترګو پنـــاه ژونـــد کـــې راتـــه خوندیتوب او ازادي ښکاري."

Night Train to Lisbon by Pascal Mercier

------------

❖ د ترکیـــې ســـوېل ختـــیځ کـــې یـــوه ډلـــه ځوانـــانو ځـــایي کلیســـاو تـــه د ګـــلاب ګلونه یوړل او سوېدن کې يې د قران کریم د سوځولو غندنه وکړه.

د دغو لاريون والو يوه استازي ابراهيم خليل ليکلي، موږ دوی ته وښودله چې اسلام د مينې او سولې دين دی، ان هغه کسان چې د اسلام خلاف تندلاري او دهشت کوي موږ ورسره بدچاري نه کو، ځکه زموږ د پيغمبر سيرت له مهربانۍ ډک دی.

د نړۍ لرو بر کې د قران عظيم الشان د سوځولو پيښه غندل شوې، ډېرو مسلمانانو ليکلي« قران يوازې پر کاغذ ليکل شوی کتاب نه بلکې د خلکو په سينو کې خوندي دی.»

------------

❖ زموږ د سپيڅلي ګروهې يوه خوږه لارښوونه داده چې د خدای رسول صلی الله عليه وسلم وايي پر زمانه او وسيلو بد پال مه نيسئ، او پر يوه انسان بد ګماني تر ټولو لويه ګناه ده.

وايي د ښه اتکل او ګمان روايت شته، نو موږ ولې د ځو بد ګمانو او منفي فکره انسانانو له امله خپل عقايد ملامت کړو.

------------

❖ ضد، يا وچ غيرت د انسان تر ټولو لوی دوښمن دی.

همدا وچ غيرت يو ځوک په کورنۍ کې د خپلولۍ پرېکون ته هڅوي، يو عالم انسان په يوه داسې ډله پسې روان کړي چې مشري او جوړښت يې له نالوستو سره وي، او کله کله خو همدا ضديت او وچ غيرت خلک له خپل دين، کولتور او نورو مهمو ارزښتونو سره دوښمنۍ ته ودروي.

------------

❖ زموږ د خلکو هيله نه بلکې ټينګه غوښتنه داده چې نړيوالي رسنۍ دې زموږ د ملي ټلويزون په توګه خپرونې وکړي او بوديجه دې يې هماغه کوربه هيوادونه ورکړي، زموږ ملي ټلويزون پروا نه کا که د ليدو کتو خبرونه خپروي او که بل هرڅه کوي.

لــه بــاليووډ او هــاليووډ لــه ســينماګانو غوښــتنه لــرو چــې فلمونــه دې زمــوږ لــه ارزښــتونو ســره ســم جــوړ کــړي، خــو د خپــل هيــواد کليــوالي تيــاتر هــم نــه سموو.

سياســتوال وايــي، نــړۍ بايــد مــوږ تــه نظــام راجــوړ کــړي بشــري حقونــه راکــړي او چــې موکــه راکــړل شــوه د خپلــو خلکــو حــق مــو بيــا د دوبــۍ او ترکيــې پــه بيلډينګونو کې سمبال کړ.

داسي نه کيږي بابا!

څو په تمه د سپړو يو، نو به پاتې پړ ميرو يو.

------------

❖ د رســـول عليـــه الســـلام يـــوه سپارښـــتنه دا وه چـــې پـــر ژويـــو او څـــارويو مهربانه اوسئ.

زمـــوږ د اخلاقـــو پـــه کتـــاب کـــې پـــر حيـــوان مهربـــاني بيخـــي نشـــته د وهلـــو او ډبولو بيلګه کې يې وايو «داسې ووهئ لکه حيوان»

د انســان د روانــي کړونــې څېرکــي نــه پيژنــو او فزيکــي ډول تــر هغــه چــې يــو څــوک مــو وژلــی نــه وي نــو کــړول يــې نــه بولــو وايــو يــار څــه بــد مــې درســره کړي «وژلی خو مې نه يې؟»

او په پای کې موږ تر عربو او عجمو د غوره ديندارۍ دعوه هم لرو.

------------

❖ انســانان کلــه پخپلــه پوهــه کــې دومــره ډوب شــي چــې خپلــه بــې وســي تــري هېــره شــي. يــوازې پــه کــړاو کــې پــوهيږي چــې څــومره عــاجز او بــې وسه دی.

------------

- ❖ يـوه جرمنـي مېشـته افغانـه مېـرمن نکـل کـوي چـې د نـور ﷴ ترکـي واکمنـۍ کـې د افغانسـتان د هغـه مهـال اسـتخباراتو يـې پـلار ونيـوه او تـر ننـه ډب ډوب شـو، وايـي پـلار مـې د پراختيـايي بانـک يـو عـادي مـدير و. د پـلار لـه ورکېـدو وروسـته مـې ورور د ننګرهـار پوهنتـون د طـب پـوهنځي محصـل د حکومـت لـه لـوري تـري تـم شـو، او پـه دې ډول زمونږ د کورنۍ جوړښت ټپي او مونږ کډوال شوو.

ورته مې وويل ولې دې د هغه مهال يادښتونه ونه ليکل؟

وايـي ليکلـو تـه مـې زړه تنګيـږي، ګنـې ډېـر داسـې لوسـتي افغانـان پېـژنم چـې د کودتاه چيانو له لوري ناترسه ظلمونه ورسره شوي.

زمـا خپـل بـاور دادی چـې کـه مـونږ د يادښـتونو د چـاپ دود او د ليکلـو هنـر لرلـی هيڅکلـه بـه پـر مـونږ هغـو خلکـو ځانونـه د ختـيځ د برابـرۍ د شـعار او بيـا وروسـته د لوېـديځ د ولسـواکۍ او بشـري حقونـو د اډانـو سـرلاري نـه راپېژنـدلی او پـه منـډه برېتـو او يـا نرمـو ژبـو بـه يـې خپـل پـرون لـه خلکـو نـه هېرولی.

------------

- ❖ د انسـان د ځـان غوښـتنې تـاو هلـه احساسـولی شـئ، کلـه چـې د يـوه عمـر خـوړلي تـاريخ پـوه د اړونـدې مفکـورې، سياسـي ډلـې او بـاورونو تېـر نقـد کـړئ. ډېـر يـې حتمـي درتـه وايـي د پـرون خبـرې پرېـږدئ د حـال خبـرې وکـړئ، پـه داسـې حـال کـې چـې تـورې ځنـې بـه يـې د پـرون پـه خبرو ټولولو او نکل ليکلو سپينې شوي وي.

------------

- ❖ پرېـږدئ چـې نقـاش او انځـورګر مـو اصـلي بڼـه وکـاږي، ښيخـه او نقـل، اصل زيانمنوي.

------------

- ❖ مـونږ يـو څـوک دومـره عقـدي کـړو چـې د صـله الرحمـۍ حـواس يـې مـړه شي او بيا هيڅ زړه سوی او درناوی نه کوي.

------------

- ❖ د هر ظالم د ژوند تېر وګوری، د عقدي يو رګ به لري، نو کله کله مظلوم د ظلم بنسټګر وي.

------------

- ❖ انساني زړه پر دبرينه مجسمه هم دردېږي، او دبرين زړه پر انسان هم نه خوږېږي.

او دې انځور ته ليکل شوي، نه مې لورېږي مات زړي انسانان ووينم ان که دوښمنان مې هم وي.

"لا أحب رؤية المنكسرين ولو كانوا أعدائي."

------------

- ❖ اديب او ژورناليست سعيد محمود تقي الدين په ۱۹۴۹ زېږديز کال کې خپل ورور ته وليکل:

وروره سلامونه او ښې هيلې!

خبر شوم چې خپل ګران هيواد لبنان کی وزير ټاکل شوی ياست.

له دې خبر سره زما ذهن ته هغه زما او ستا د وړوکوالي حالت راياد شو.

ياد دې شي! هغه مهال چې ما او تا به ماسختن د خوب لپاره پر ځغاسته د پلار کټ ته تللو، سيالي به دا وه چې کوم يو مخکې رسيږي چې له پلار سره ويده شي. پلار به مو لاسونه بويول چې ايا لاسونه مو له خوراک وروسته وينځلي که نه. که به هر چا لاسونه نه و مينځلي د خوب لپاره به يې ځان سره نه مانه.

ګوره وروره هغه اوس په سنديانة مقام کې تر خاورو لاندې پروت دی.

زه او ته به هم د هغه خوا ته ورځو لاس به مو بويوي، چې د حرام رزق بوی ترې ځي او که د حلال.

نو وروره که دې لاس پاک ساتې، وزارت دې مبارک شه!

هــر څــوک او هــر چــارواکی بایــد خپــل لاس هــره شــپه لــه ویــده کېــدو وړانــدې بوی کړي حرام يې لمس کړي که حلال.*

زما د قدرمن استاد برهان الدين برهان له خولې نکل دی.

------------

❖ صــبر او زغــم د څښــتن تعــالی حکمــت تــه د درنــاوي لــوړه ځانګړنــه ده. کــه څــوک صــبر ولــري د ژونــد لپــاره يــو غښــتلی زړه مــومي چــې هيڅکلــه د مــاتې احســاس نــه کــوي، لــه هــر وار لوېــدو ســره هســکه غــاړه راپورته کيږي.

ستاسو سبانۍ نيکمرغۍ په نني صبر کې نغښتې.

قــران کــريم کــې د صــبر اړونــد لــه ۲۵ ډيــر ايتونــه شــته،د صــبر د ارزښــت او بدلې ترڅنګ الله تعالی د انسان پيدايښت له سختيو او ربړو سره ياد کړی.

(لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسانَ فی کَبَدٍ)سورة البلد

------------

❖ د ديــن عــالم د لغــوي معنــی لــه مخــې هغــه څــوک دی چــې دينــي زده کــړې او تخصــص لــري، خــو د بشــپړو معنويــاتو لــه پلــوه يــوازې هغــه څــوک دينــي عــالم نــه دی چــې لــه مدرســې،پوهنتون، او معهــدونو فــارغ وي.

ښــايي يــو نــا مســلمانه کــس هــم زمــوږ ديــن لوســتی وي پــه قــران کــريم پــوه وي خــو مــوږ ورتــه د خپلــې تــولنې او مروجــې ترمېنــالوژۍ لــه مخــې دينــي عــالم نــه وايو.

دينــي عــالم، امام،خطيــب،ملا، مولــوي .. هغــه څــوک دی چــې عــالم وي،عمــل يــې وي، حلــيم او خيرخــواه وي، د خپلــې ډلــې د ګټــو لپــاره دينــي روايــات نــه تفســيروي، پــر خپلــو مقتــديانو ســترګې نــه راوباســي، غوســه او پــه تنــده ژبــه خبــرې نــه کــوي، پــر خلکــو د کفــر او الحــاد ټــاپې لــه محکمــې او قضــا پرتــه نــه

لګوي، له جنجالي سياسي اړخونو سره په ښڅک کې نه ودريږي، د مذاهبو ترمنځ اختلاف نه راپاروي، ځان ته په لوړ مقام او عوامو ته د ناپوهو په نظر نه ګوري او ګڼې نورې ښېګڼې.

دا ټولې ځانګړنې د محمدي اخلاقو بېلګې دي.

زموږ پيغمبر هيڅ ځای خلک نه دي سپک کړي، ځوک يې لارو کې په پاپيونو نه دی وهلی، د ګناه له امله يې د مخ تورولو او تحقير سزاګانې نه دي ورکړي،ښکنځل او نورو ته توهين يې د منافق کار بللی، هيڅ وخت په لوړ غږ نه غږېده، په مسلمانانو يې د الحاد ټاپې نه لګولې او په ټولنه کې ان نا مسلمانه وګړي يې له چلنده اغېزمن او خوښ وو.

د الله تعالی امر هم دی چې موسی عليه السلام ته يې د ښه لارښود او غوره عالم د لټون ويلي هغه چې د پرمختګ او بريااليتوب لاره درته جوړوي.

«قالَ لَهُ مُوسى هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلى أَنْ تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْداً»سورة کهف

------------

- ❖ د شوروي اتحاد وروستي مشر ميخائيل ګورباچوف به ويل که تاسو په خپلو تېرو کارونو وياړئ او فکر کوئ پروني کارونه مو عالي دي، ددې معنا دا ده چې نن مو څه نه دي کړي او ناکام ياست.

------------

- ❖ په تورتم کې ناسته دې له راغلي سباونه هم ناخبره ساتي او يو ګام تګ دې رڼايي ته نږدې کوي.

دې تياره موسم کې چې ښونځي ترلي د کور هره خونه بايد د ښونځي ټولګی شي، يوه ورځ به د جهل له فکرونو ساه وتلي وي، او د وطن لوڼه به له رڼه فکر سره پايدلي وي.

خدای خو مهربانه دی!

------------

❖ لنـــدن کـــې د روڼ انـــدو افغانـــانو غونـــډه وه، ویناـــوالو یـــوه یـــې ویـــل د شـــاه امـــان الله خـــان لـــه لـــوري د میرمنـــو حقونـــو او ازادیـــو لپـــاره هڅـــې کمســـارې وې، بـــل ویـــل زمـــوږ د ډیموکراتیـــک جمهوریـــت مـــوده کـــې د مېرمنـــو ونـــډه پـــه ټـــولنیزو چـــارو کـــې بیخـــي نـــامي وه، بـــل پســـې پاڅېـــده او پـــه فلسـفي انـداز یـې ژبـه ایلـه کـړه چـې کـه څـوک د مېرمنـو ونـډې تـه پـه ټولنه کې ژمن نه وي انساني ارزښتونو ته نه دی ژمن.

زمـا د یـوه دوسـت میرمنـه چـې غونـډه کـې یـوازینۍ ښـځینه ګډونوالـه وه څلـور کونجـه تـالار تـه یـې پـه غبرګـو غبرګـو وکتـل چـې دا سـړي خـو پـر ځـان عریضـي کـوي، یـوه یـې هـم د لنـدن پـه څیـر د ازادیـو ټولنـه کـې نـه مېـرمن غونـډې تـه لـه ځـان سـره بیـولې وه او نـه یـې د کـور بلـه ښـځینه غـړې چـې پـه داسي ټولنیزو او علمي ناستو کې ګډون وکړي.

نـو خبـره مـې دا کولـه چـې مـوږ د خبـرو خلـک یـو د نـورو ښـځو تـه ازادۍ غـواړو، پخپلـه لندن،واشـنګټن، پـاریس.. کـې شـاهانه ژونـد لـرو خـو پـه ډوډۍ پسې حیران ولس ته وایو پورته شئ د ملي ګټو ساتنه وکړئ.

تـر ټولـو مقصـر خلـک همـدا لوسـتي یـا نیمچـه لوسـتي دي، چـې د نـا انصـافیو تلـه یـې تـل لاس کـې ده او د بـې وزلـو هیوادوالـو پـر ژوبلـو اوږو یـې خپـل اړم ایښی.

------------

❖ زمـوږ یـو کلیـوال بـه ویـل چـې دا فلانـی ملـک مـې دې مـړ کـړي خـو چـې دا نېغـه شـمله مـې مخـې تـه نـه ګرځـي. نـو زمـوږ لـه درې رنګـه وطنـي غـرور سـره لوبېـدونکي زلمـي د مرڅېنـو پـر زړه تـر سـلو مـاتو لوی درد تېروي.

------------

❖ ملـي احساسـات دومـره زور لـري چـې لـه ولسـونو د ژونـد بـل هـر اړخ هېـروي، کـه ورتـه خپرېـدونکې انلایـن رسـنۍ هرڅـومره بـې خونـده او ناسـمه امـلا انشـا سـره لیکـل خپـروي خـو چـې د دوئ د هیـواد نـوم پکـې وي هرکلی یې کوي.

کـــه هرڅـــومره درغـــل او فســـاتي خپـــل يـــې پـــر دې موکـــه غږيـــږي دوئ يـــې اوري، او د ډيـــرو بختـــورو مســـلکي او اخلاقـــي نيمګړتيـــاوې ددغـــو احساســـاتو سيوري کې پټې شي.

ولسي مينه د يوه هيواد ځواک دی!

------------

❖ ويټامين ص

يـو ځـوک پـه مسـکه ځېـره، روانـه ژبـه او ولسـي ځېـره خپلـو خلکـو تـه وايـي، ايا د ويټامين ص په اړه مو اورېدلي؟

خلـــک ورتـــه هـــک پـــک شـــي د A-B-C-D او نـــورو ويټـــامينونو پـــه هکلـــه مـــو اورېدلي و خو د(ص) په هکله نه.

وينـــاوال وايـــي ويټـــامين ص ستاســـو روان، لـــه ځښـــتن تعـــالی ســـره اړيکـــه او ټولنيز ژوند در سموي، هيڅکله يې مه قضا کوئ.

ص:

صلاة-لمونځ

صوم- روژه

صدقه-ښېګڼه او لاس نيوی

صبر-زغم

صحبة صالحة- نيکې خبرې او له نېکانو سره خبرې کول.

دا ډول حکمـــت بـــه څـــومره لـــوی اغېـــز ولـــري چـــې امـــام يـــې مقتـــديانو لپـــاره کاروي او د دين پلي کېدا ته خلک وربلي.

کـــه بـــل امـــام پـــه تـــروش تنـــدي، لـــه غوســـې غـــرور او پرېشـــانی ســـره ډکـــه ځېـــره چـــې وســـله وال ســـړي يـــې هـــم بدرګـــه کـــوي او ممبـــر تـــه وخيـــژي خپـــل خلـــک وترهـــوي، ويـــې ګواښـــي، خلکـــو تـــه ووايـــي د ســـړي زامـــن شـــئ ګنـــې خيـــر بـــه مـــو نه وي، د الله دين ومنئ سمې جامې واغوندئ ، زما ډله او لاره ومنئ .

نــو دا ډول امــام بــه خپــل مقتــديان څــومره خــوبن وســاتي او د ديــن لــور تــه بــه يې وبلي؟

اسلام په زور نه دی راغلی په حکمت او ښه انساني چلند خپور شوی.

------------

❖ ثبــات د فزيکــي امــن معنــا نــه لــري، ټيکــاو دې تــه وايــي چــې د ټــولنې بنســټونه د مســوليت لــه مخــې وپالــل شــي نــه د بــازار د ســود ســودا پــه توګه.

زمــوږ د بــې ثبــاتی څــومره لــوی بيلګــي دي، لــه شــخړو او ټوپــک ســره پاېــدلو خلکــو شــل کالــه د ډيموکراســی او ولســواکۍ درس ولــس تــه ورکــاوه، د سياســت معيــار يکــې د مــادي شــتمنۍ او زور واکــی لــرل دي، د شــپېتو تــذکيرو پــه ټولولــو يــو خامــه خولــه چــالاک ځــوان د عمرخوړلــو باتجربــه کليوالــو ملــک جوړېــده، کــه دې د څــو ســوه زرو خلکــو څــو ورځــې ډوډۍ او د عکســونو چــاپولو وس درلــود ولســي اســتازی جوړېــدې، لــه لنــدن او واشــنګټنه ځوانــان او پيغلــې پــر پــردو مرســتو ولاړ ټــوک ټــوک وطــن تــه مــزدوری تــه تلــل او دا دی کــال کېــږي نالوســتي مينــدې واکمــن مــلا تــه د قــران کــريم او احــاديثو لېکچــرې ورکــوي چــې مولانــا صــاحب زمــوږ ديــن وايــي تعلــيم پــر ښــځه او نــر فــرض دی او هغــه کلــه د واســکټ جېــب تــه وګــوري چــې پيســې نشــته، کلــه د مســتورو مېنــدو پــر ســترګو وربــرګ شــي چــې د کولتــور لــه املــه مــو ښــونځي تړلي او کله وايي د خدای پر دغه حکم د دې کلي د علماو اجماع نشته.

څه نادرې به دا بې وسه ولس ونه ګوري څه درسونه به نور راشي.

رب دې دا تقديرونــــه زمــــوږ ددې متزلزلــــو تــــدبيرونو د ســــمون لپــــاره بــــدل کړي.

------------

❖ لــه اســلام وړانــدې د جهالــت پــر مهــال لــه نجونــو ســره کرکــه دومــره ډېــره وه چــې پــر پيدايښــت بــه يــې د مبــارکۍ پرځــای کــورنۍ تــه تســليت ورکــول کېــده او ســپکونکي تــوري بــه کــارول کېــده «هنيئــا لــک النافجــه»

پـردې او بــې کــاره بــه یــې ګڼلــه، همــدا ډول د ژونــد لــه حقــه نیــولې د ژونــد د اسانیو تر حقونو به یې ترې اخستل.

قبیلــوي مشـــرانو بـــه ویـــل دوی خپـــل رواج او فرهنـــګ تـــه د درنـــاوي لپـــاره دا کار کوي.

اسـلام دا هـر څــه لـه یـوې مخــې بـدل کــړل دومـره لـوړ درنــاوی یــې ورکــړ چــې نبــي علیــه الســلام بــه خپلــو ملګــرو تــه ویــل تاســو کــې بختــور هغــه څــوک دی چــې لـــومړنی اولاد یـــې نجلـــۍ وي، هغـــه کـــور کـــې چـــې نجلـــۍ وي برکتونـــه ورسره مله وي.

میراث، تعلیم، او ټولنیزو چارو کې ونډه ورکړل شوه.

خــو دا دی څــه دپاســه ۱۴ســوه کالــه وروســته لــه بــده مرغــه بیــا یــو شــمیر خلــک د قبیلــوي مشــرانو د هغــه فرهنــګ ننګــې تــه راوتلــي چــې پــه خپــل جهالــت پــرې ټینګ ولاړ وو، د خدای له قهره نه ډارېده خو د قبیلو له پېغوره ډارېده.

------------

❖ جګړه او ویجاړي د کرکې زېږنده ده، کرکه له ناپوهۍ پیدا کیږي.

------------

❖ کــه انســان یــوه زره شــعور او پوهــه هــم ولــري د یــوه ګــل پاڼــه بــه لا پــرې نــه کــړي. نــن یــو ناځوانــه خبــر پــر خوالــه رســنیو خپــور دی چــې پکتیکــا کــې یــو کــرکجن د منــو ســلګونه ونــې ریبلــي، یــوه ونــه څــومره کلونــو کــې ثمــر تــه رســي نــو کــه مــو خلــک لــه ښــونځیو لیــرې وســاتل، د انســان مــرګ، د ودانیــو ویجــاړول، او د ځنګلــه او بــڼ وهــل بــه ورتــه د یــوې ګړۍ خوا سړول ښکاري.

------------

❖ د انســاني ژونــد پــه تــاریخ کــې لــه ښــځو ســره د بــې رحمــه چلنــد دومــره بدې بیلګې شته چې په لوستو یې انسان البته انسان ته درد رسیږي.

هندوستان کې خلکو د لور زیږېدنه د خپلو خدایګوټو تېروتنه ګڼله، د ساتي یا ستي رسم او قانون له مخې هغه مېرمن چې مېړه یې مړ کېده باید د هغه له مرګ وروسته دا هم ژوندۍ وسوځول شي.

اوسنۍ روسیه، یونان او روم کې د غلام او میرمن ډیر توپیر نه کېده، په نړدې ټوله اوروپا کې له صنعتي انقلاب وړاندې د ښځو ژوند در په خاورې پر سر و.

په تاریخ کې به یې ښایي کمې نادره ښې بیلګې هم وي خو تر ټولو لوی بدلون د اسلام دین د ښځو ژوند کې راوستی چې ښځو پکې د کرار ساه واخسته او ان ټولنیز ځایونو لکه جومات او د مشورو او ناستو سیمو ته هسکه غاړه او په درناوي تللې.

د ښونځیو بند ساتل د اسلام له تاریخ سره اړخ نه لګوي بلکې له دغو نورو بدو بیلګو سر چینه اخلي او راتلونکي نسلونه به دا د یوه تیاره پېر پاڼه یادوي.

نو دا تیاره پاڼه ځېرول غواړي، د اسلام تاریخ له نوم بدۍ ژغورل غواړي

------------

❖ که درک کړئ یو څوک په کوم حالت کې درسره غږیږي، هیڅکله به د چا په خبرو خوا بدي نشئ.ډیر کله جنجالونه د ناسم پوهاوي او ناسازه حالت له امله وي.

------------

❖ چې چاپېره ترې زنځـــیر او نه زندان شته

ستا په ښار کې داسې هم یو بندیوان شته

بیا په خپله د خپل زخـــــم چاره ګر شوم

څه موده خو منتظـــر وم چې یاران شته

لکه دوی چې هم زما سره په ضــــــــد وو

چې ته راغـــــلې نه سیلۍ شته نه باران شته

دلته اوس هم د جـــــنګ ورځ لمانځلی کیږي

دلته بیا هم د ســـــــــــندرو قدردان شته

که ملنګ یې غـــــــــــره زړه دې د باچا دی

په خـــــــــــویونو دې اثر د خاندان شته

ابرار غر

------------

❖ د پښـــتونخوا د ملایـــانو یـــو کمـــال دادی چـــې وعظونـــو کـــې پـــر خپلـــو خلکـــو د مـــرګ فتـــوا نـــه ورکـــوي، د یـــوه بـــل عقیـــدې ښـــکنځي، کتابونـــه ښـــکنځي، ان لـــه احـــادیثو منکـــر او نقـــادان هـــم پکـــې وي. دیوبنـــدی یـــې د اهـــل حـــدیث ســـپکاوی کـــوي، پنجپیریـــان د شـــاه منصـــور مـــذهب لـــه ممبـــره پـــر بـــدو ردو یـــادوي، خـــو بیـــا بیرتـــه واده او غـــم ښـــادۍ کـــې ناســـت وي، خپـــل سیاســـت وال، هنرمنـــــدان او هنرمنـــــدانې، کرکټیـــــان او نڅـــــاګرې پـــــه ټوکـــــو ټوکـــــو نقدوي ته وا د سوداګرۍ شریکان یې دي.

زمـــوږ د بـــره وطـــن علمـــا لـــومړی ســـړی وژنـــې بیـــا یـــې پـــر تنـــدي د فتـــوا لیـــک ږدي چـــې ګـــواکې دا یـــې ګنـــاه وه نـــو ځکـــه د مـــرګ لایـــق و، پـــر ژونـــد ورســـره هیڅ بحث خاص نه کوي.

------------

❖ د کابـــل پوهنتـــون یـــو محصـــل یـــوه ورځ د ولســـي جرګـــې د یـــوه وکیـــل کـــره راننـــوت ګریـــوان یـــې څیـــرې کـــړی یـــا پـــرې څیـــرې شـــوی و، ســـور شـــین کیـــده ویـــل یـــې پـــر لوحـــه د پوهنتـــون او دانشـــګاه لانجـــه کـــې مـــې کوتکونـــه خـــوړلي، وکیـــل صـــاحب تـــه مـــو لـــږ مـــالي او سیاســـي ملاتـــړ وکـــړه نـــور نـــو د ملـــت د ارزښـــتونو د ســـاتنې قربـــانۍ تـــه مـــوږ ولاړ یـــو کـــه سر مې هم ځي.

مــوړ ورتــه ویــل درس تــه لومړیتــوب ورکــړه دا جنجالونــه بــه  دې زده کــړې تېکنۍ کړي.

سـړی سـور شـو ویـل یـې کـه خپلـه بـې غیرتـه یاسـت ماتـه د بـې غیرتـۍ تبلیـغ مـه کـوئ، زه پـر ملـت پالنـه او ملـي ترمنـالوژۍ لـه سـره تېـر یـم ایرانـۍ کلمـې نشم منلی.

انــډیوال اوس اوروپــا کــې مېشــت دی او لــه پرونــه یــې لســم لکچــر لــولم چــې وایــي ژبــې خــوړې دي، پســتې دې، او لــوحې مــه لیــرې کوئ،دانشــګاه مــو خپله ده بېخي رشته مو ورسره ده، نفرت مه خوروئ.

نـو څـه ووایـو چـې دا سـړی پخـوا سـم و، کـه اوس سـم شـوی خـو پـه ثبـات راتـه نه  ښکاري.

------------

❖ پرتګال کې له ککرو جوړه کلیسا؛

د هــډونو کلیســا -Capela dos Os sos د ایبریــا جزیــره کــې پــه شپاړســمه زیږدیزه پېړۍ کې جوړه شوې.

پــه ورننوتلــو ســره انســان ســخت ډاریــږي، خــو هغــوئ چــې د ژونــد خــوږوالي ته یې پام نه وي وریادوي چې وخت د انسان له ککرې څرمن اړوي.

د ککــرو او انســاني هــډونو د ټولولــو فکــر د هغــه مهــال لــه راهبــانو ســره ددې لپــاره پیــدا شــو چــې ګــواکي هــدیرې بــه ډیــره ځمکــه نــه نیســي او پــاتي شــوني هډونــه بــه د کلیســا وړې خــونې تــه راوړل کېــږي، کــه څــه هــم دغــه نظریــې ډیــر دوام ونــه کــړ، یــو کتــاب دا هــم لیکــي کلیســا کــې ۵۰۰۰ ځړېــدلې ککــرۍ چــې د یــوه ماشــوم ډانچــه هــم پکــې ده، د یــوې شــاهي کــورنۍ د خــدمتګارانو اړونــد وو.

❖ مسلمانانو کې تبلیغ؛

۲۰۱۷ کــال  یــو انــدونیزیایي ددغــه کلیســا انځــور پــر خوالــه رســنیو خپــور کــړ ویــې لیکــل چــې دا د انــدلس د هغــو مســلمانانو ککــرې دي چــې د اشــغال پــر دبــره کېــدو یــې لــه دینــه تېرېــده نــه منــل. ۲۰۲۰ کــال ورتــه انځــور د فرانســې یــو

مــوزيم پســې وتــړل شــو او يــو الجزايــري وليکــل دا د ســلګونو هغــه مســلمانانو د ککرو انځورونه دي چې د فرانسي ښکېلاک موده کې وژل شوي.

خو فرانسويانو رد کړه چې اصلادا انځور د دوئ د هيواد نه دی.

کلــه کلــه دا ډول تبليغــات خــورا احساســات پــاروي، نــو ښــه ده چــې لــه احساساتو وړاندې څيړنه او لوست وشي.

د انــدلس فتحــه د ۷ مــې مــيلادي پيــړۍ وروســتيو او بيــا نيــواک يــې د اتمــې ميلادي پيړۍ لومړيو کې و.

------------

❖ د قوشــتيپې کانــال چــارې د پــروژې د ســمبالګرو لــه نکلــه تــر خپلــې ټــاکلي مــودې څلــور مياشــتې مخکــې بشــپړيږي، او دا ډاډ هــم شــته چــې درغلي او فساد به پکې لکه د پخوا نه وي.

د کابــل پــه ګــډون د هيــواد ډېــرو ښــارونو کــې لــه کنــدهار پرتــه ښــاروالۍ ډېــرې منظمې دي او په لږو امکاناتو ښه کارونه کوي.

د بــاختر اژانــس فعاليــت چــې پخــوا پــه ټپــه ولاړ و اوس کــه څــه هــم تبليغــاتي بڼــه لري خو له تخنيکي پلوه پياوړی شوی.

په وطن کې هيڅوک په وازه خوله د هيواد نوم او هويت نشي ننګولی.

ګڼــې نــورې ښــې بيلګــې بــه هــم وي چــې اوســمهالي واکمنــي يــې لــري، خــو لــه تعلــيم او دنجونــو د ښــونځيو تــړل کېــده يــې لــه خلکــو او هيــواد ســره داســې غليمانــه چلنــد دی، چــې کــه وطــن لــه ســرو زرو جــوړ هــم کــړي راتلــونکی بــه يې تياره وي.

تــازه کــونړ، نورســتان، زابــل او يوشــمير نــورو ولايتونــو کــې چــې ځــايی چــارواکو د خپــل زړه ســوي لــه مخــې د نجونــو ځينــې ښــونځي او تعليمــي مرکزونــه پرانســتي و، د مشــرتابه لــه ډاره يــې بيرتــه تړلــي.دا عمــل هيڅکلــه د بخښلو نه دی.

------------

❖ یو ځوان پر ښو چارسدوالو څپلیو، پر غاړه کندهاری جامو او پر سر له ژیړې پکتیا والې پګړۍ سره د پښتانه کولتور ورځ ځان او خلکو ته بختوره بللې.

همدغه ځوان او تاند چاروکی مې یاد شي دوه کاله وړاندې د لویې جرګې تالار کې یې د یوه سپین ږیري پر څوکۍ اوښتو انځور سره یې د تمسخر او خندا نښې پر فسبوک پوسټ کړې وې.

د پښتون کولتور، د سپین ږیرو او تر ځان مشرانو درناوی لازموي ان که فکري او ایډیالوژیک اختلاف هم ورسره ولرې.

------------

❖ که د فلسفې استاد هم و، خو چې عقده یې درلوده د منطق تمه ترې مه لره.

------------

❖ په لومړي ځل به یوه سعودۍ مېرمن فضا ته سفر وکړي. د سعودي عربستان SPA خبري اژانس لیکي د دغه هیواد د ملي فضایي ادارې د پلان له مخې به دغه مېرمن د نوي زېږدیز کال ۲۰۲۳ لومړیو کې فضا ته لاړه شي.

رویټرز خبر ورکړی چې دا سفر د ایکسوم په نوم د امریکایۍ فضایي څېړنیزې ادارې په ملګرتیا تیار شوی.

نړۍ بدلېدونکې ده، عرب امارات، سعودي، قطر او نور عرب هیوادونه پر دې پوهېږي چې سیالي د جګړې په زړو روایاتو نشي.

موږ لا له فضا سره یو میلیون ورځې واټن لرو، یوازې د ګاونډ د ډاکټرانو له احتیاجې د خپلو خلکو ژغورولو لپاره د خدای تعالی د حکم پر وړاندې د رواج په نوم اېښودل شوې ډېرې لیرې کړئ، او ترلي ښونځي پرانیزئ.

------------

- ❖ شـيخ يوسـف القرضـاوي د افغانسـتان پـه کشـاله کـې د خپـل وس پـه کچـه د يـو عـالم دنـده پرځـای کـړه. د شـوروي خـلاف د افغـان جهـاد کلونـو کـې يـې پراخـې هڅـې کـولې چـې لـه عـرب نـړۍ د افغـان کـډوالو او ظـاهرا د خپلـواکۍ پـه نيـت پورتـه شـويو خلکـو لپـاره مرسـتې ټـولې کړي.

هغـه د کـورنۍ جګـړې پـر مهـال پـر افغـان جهـادي مشـرانو ډول ډول فشـارونه راوړه چې د واک جګړه پرېږدي او دغه جګړه يې فتنه بلله.

پـه ۲۰۰۱ کـال کـې د خپـل وروسـتي سـفر پـر مهـال يـې کنـدهار کـې د هغـه مهـال د طالبـانو قاضـي القضـات او د سـترې محکمـې لـه ريـس مولـوي نـورمحمد ثاقـب سـره پـر دې خبـرې وکـړې چـې د باميـانو د بـودا ړنګـول لـه اسـلام سـره کومه اړيکه نه لري او يوازې دا چې د يوې تاريخي مجسمې نړول دي.

شـيخ القرضـاوي کـه څـه هـم پـر افغانسـتان د امريکـا د پـوځي يرغـل سـخت مخـالف و، افغـان سـوله کـې يـې د بـين الافغـاني خبـرو ننګـه کولـه. پـه ۲۰۲۰ کـال کـې يـې د مولـوي عطـا الله لـودين پـه مشـرۍ لـه کابلـه د ورغلـي پـلاوي او بيـا وروسـته د طالبـانو لـه يـو شـمير غـړو سـره وليـدل او ټينګـار يـې دا و چـې افغانان بايد د خبرو له لارې يوې حل لارې ته ورسيږي.

شـيخ القرضـاوي لـه اره مصـری او د ژونـد ډېـر کلونـه يـې قطـر کـې تېـر کـړل او ددغه هيواد تابيعت هم ورکړل شوی و.

خبـر دی چـې د اسـلامي نـړۍ دغـه لـوی عـالم لـه دې نـړۍ د۹۶ کلونـو پـه عمر وکوچېد.

پر ګور يې نور.

------------

- ❖ د مکـې مکرمـې پـه درې کيلـو متـری کـې د جبـل النـور پـه نـوم غـر چـې حـرا سـمڅه يـا غـار حـراء پکـې واقـع ده، او پـر حضـرت محمد صـلی الله عليـه وسـلم لـومړنی وحـې هـم هلتـه راغلـې ورسـره د قـران کـريم لومړنی ايت چې د لوست امر کوي.

دا اوس د سـعودي د ثقافـت او ښـاروالی ادارو پکـې د لېـزر وړانګـو او ځراغونـو پـر مټ د قـران کـريم هغـه مبـارک ايـة ليکلـی او لـه ځـو کېلـو متـره وړاندې د ليدو وړ دی.

جبـل النـور چـې لـه کابـل او کنـدهاره نـه ليـدل کېـږي زه يـې دا انځـور خپـروم او چـارواکو تـه وريـادوم چـې لوسـت د الله تعـالی امـر او رسـول الله تـه لـومړنی رسـېدلي خبـره ده، نـو د خـدای ومنـئ د خپـل هيـواد د بچـو پـر وړاندې د لوست دروازې مه تړئ.

------------

❖ ځـو کالـه وړانـدې يـو حـاجي والـي صـاحب د حـج لـه سـفر وروسـته د ولايتـي بيـا رغـاوني د ټـيم امريکـايي قومنـدان تـه د سـوغات پـه توګـه تسـبح او زمـزم اوبـه د يـوې لـوی ناسـتې پـر مهـال پـه ويـاړ ورکـړې، سـره لـه دې چـې د زمـزم او تسـبو سـره پـر تـړاو تقـدس بانـدې بـاور ارزښـت لـري چـې سـوغات اخسـتونکي سـره نـه و، نـورې خـو اوبـه او تش کانې دي، خو د حاجي صاحب اخلاص و.

------------

❖ کـه د عـرب نـړۍ علمـا نـه وای د سـويلي اسـيا مدرسـو بـه د خپلـو فتـاوو لـه لارې د قـدرت د ګټـو لپـاره د ديـن ډېـر مهـم ارکـان مبـاح ګرځـولی وی.

شـيخ القرضـاوي پـه يـوه وينـا کـې وايـي لـه نـورو دينونـو سـره د اسـلام يـو تـوپير دادی چـې لـه لـومړي سـره يـې ټينګـار پـر علـم دی، او د ديـن علـم بايـد د رياضي، فزيک او طبابت له اړوند ځانګو جلا ونه ګڼل شي.

------------

❖ کـه تاسـو د ګـړی سـتن د سـهار پـر وخـت برابـره کـړئ کـه نـه، سـهار بـه راځي.

سره له دې چې جګړو هر بنسټ ته زيان اړولی، خو د لوستو او پر دونيا او دين د پوهېدلو افغانانو شمېر د تېرو څلوېښتو کلونو پرتله ښې خوا ته تللی.

کومې تېروتنې چې پيښېږي د نظامونو د کمزوری له امله دي چې هغه د ولس له وسه پورته کار دی.پخوا به يوه لوی کلي کې د فاتحې لپاره د قران کريم لوستلو او دوعا ته يو سړی پر بخت موندل کېده، او د هغوی به هم د لږو يې قرات او لوست سم و. ډيرو پر خلاصه علم خلاصه کړی و، د قران د تفسير ژبه او پوهه يې نه درلوده، په ډيرو مسلو کې به يې د ځان خلاصون لپاره ويل (دې مسله کې د علماوو اختلاف دی) يو شمير کمساري او د لوړ مقام علما به هم و، خو شمير يې لږ و.

له ښه مرغه اوس که د دين خبره يو ملا په ناسم ډول تشريح کوي د زرګونو پر دين پوهو ځوانانو او حقپلو علماوو غبږ ورسره پورته کېږي، څوک د خپلې ګټې لپاره بدعات نشي دودولی، هيڅوک پر ولس فرايض نشي مباح کولی يوازې د جبر سيوری به وي، خدای به د عدل او انصاف ورځې هم راولي.

حوصلې لوړې ساتل غواړي،زموږ رب عادل او رحيم دی.

------------

- ❖ که مو چا زړه ازار کړی وي، د کرارولو لنډه لاره يې بخښنه ده، د کينې تاو تر تله نه سړيږي.

ځينې خلک د عمر مشروالي له امله وبخښئ.

يو څوک ښايي د هغه د وړستوګي،حريص او ډارن عادت له امله وبښل شي.

چا به د نورو مجبوريت ته کتلي وي، بخښل يې شوني دي.

په ناپوهېدلي ډول د چا ازاري لاس هم بخښل کېدای شي.

يو څوک ممکن د تېرو ښېګڼو له امله وبخښل شي.

ځيني خواږه ژبي وي، ورته موسک شئ بخښنه ورته وکړئ.

د ځېنو سترګې ښکلي وي، د هغه لپاره يې وبخښئ.

مانـــا دا چــې بخښــني تـــه هــره پلمـــه لټـــول کېــداى شـــي، يـــوازې ظلـــم او د چـــا کړول دي چې هيڅ دليل او پلمه نلري.

------------

- ❖ کــه د غــچ اراده لــرئ څښــتن تعــالى تــه يــې وســپارئ هغــه تــر ټولــو ښــه غچ اخستونکى دى

إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ ذُو انْتِقَامٍ

------------

- ❖ مــوږ خلــک بــه ډيــرې ښــېګڼې او مثبــت عادتونــه هــم لــرو خــو د ناکــاميو لپاره مو دا يو ټکى هم بس دى چې ژوند کې جدي خلک نه يو.

مــړى بــه د کــور پــه غــولي کــې پــروت وي، مــوږ بــه يــوه کــونج تــه دوه دوه کېږو، او په راټولو شويو خلکو کې به پر يوه ملنډې وهو.

د خپــل کــور، کلــي او هيــواد د راتلونکــو پنځــوو کلونــو پــه اړه عملــي فکــر نــه کو.

کــه مــو يــو مســلک يــا يــوه دولتــي دنــده ترلاســه کــړه انګيــرو، بايــد پکــې زاړه شوو.

هنرونه،مســلکي وړتيــاوې او بنــې کــال پــه کــال بــدليږي مــوږ يــوازې پــه تېــرو کلونــو شــمېر کــوو چــې څــومره وخــت مــو تېــر شــوى، حــال دا چــې يــو وخــت ښايي زموږ هنر له وخته تېر وي او نوې بنې د کار مخې ته راغلي وي.

نــړى کــې خلــک لــه ۲۱ کلنــى تــر ۶۵ کلنــى لــږ ترلــږه پــه منځنــى کچــه شــپږ مسلکونه بدلوي.

د کــاټو پــه نــوم يــوه ځيرنيــزه اداره ليکــي، ۲۱ پيــړۍ کــې ۴۰ پــه ســلو کــې امريکــايي کــارګر لنــډمهالي قراردادیــان وو، او د اړتیــا لــه مخــې لــه يــوه شرکته بل او له يوه مسلکه بل ته تلل.

مــوږ تــل فکــر کــوو دنــده بايــد راکــړل شــي، نــړۍ کــې خلــک دنــده پســې لټــون کوي.

> زمــوږ سياســت هــم د نــه جــديت لــه املــه وران او ناســازه دی. ملــت پالنــه مــو يــوازې شــعرونو تــه پــاتې ده او يــا هــم د حجــرې تــاوده مجلــس تــه چــې يــو فلسفي د نورې نړۍ مثالونه او خپلې پخوانۍ قهرمانۍ رايادې کړي.

تــر هغــه چــې جــدي نــه يــو، نــړۍ تــه بــه مهــم نــه ښــکارو او ژونــد بــه هــم راپســې له خندا شين وي.

------------

- ❖ هــر ځــای تــاريخي ســيمې د ســيلانۍ او ګرځنــدوی لپــاره ښــکلې وي او پالل کيږي.

زمــوږ د ښــار دغــه تــاريخي غونــډۍ چغــان نــوميږي. د چغانيــانو پاچــاهي پــرې تېــره شــوې، د چنګيزخــان او هولاکــو/هلاکــو د لښــکرو د مــاتو تــاريخ پکــې نــيم ژوانده پروت دی.

د جنــګ د وطــن دا تــاريخي غونــډۍ د اســداباد ښــار پــر ختيځــه څنــډه د دوه ســيندونو مــنځ کــې داســې تــړې او ســپيره ولاړه ده تــه وا زمــوږ د بــې وزلــو وګــړو د ســپيرو شــونډو انځــور پــر ســينه ســاتي.د چغــان پــر هســکو د صــوبو او بريــاوو د لمــانځنو پرځــای ددغــه غونــډۍ لمنــه کــې د پراتــه کلــي کرهــالي خلــک هــر کــال د وري ۳۱ د خپلــو هغــو ۱۲ ســوه کليوالــو پــر ډلــه ايــز قبــر ويــر کــوي چــې د يــوه نســبتا لوســتي او د تمــدن د دعــوه ګيــر افغــان واکمــن نــور محمد ترکــي پــه واکمنــۍ کــې پــه بــې رحمــۍ پــرې بيلــډوزرې وګرځــول شــوې او ژوندي تر خاورو لاندې شول.

دې هيــواد کــې کــه هــر څــومره بهرنــي ښــکرور مــات شــوي، د خپلــو نــامردۍ يــې دومــره ظالمانــه دي چــې لــه خلکــو يــې بهرنــي يرغلګــر هېــر کــړي، نــو ځکه مو خلک په هره بده ورځ د پرونۍ بدې ورځې ارمان کوي.

دا کیسه په بیا بیا تکرار ده،بهرنیان دې زموږ واکمنو ته دوعا کوي چې د هغوئ تیری یې هرځل له ولسه هېر کړی.

------------

- ❖ د نیټ فلکس د نوښتګر پروډکشن یوه مشره چې له لیرې د نړۍ بیلابیلو هیوادونو کې له کاري ډلو سره کار کوي، یوه مرکه کې پوښتل کېږي، دومره خواره واره خلک او کاري ډلګۍ څه ډول مدیریت کوئ؟

وایي تر ټولو لوی کمال دا دی چې یو باور رامنځ ته شي نو که بیا څوک لیرې هم وي مدیریت یې اسانه دی.

-نو باور څه ډول رامنځ ته کیږي؟

ویل یې کله مې هم همکارانو ته درواغ نه دي ویلي او نه مې فریبانه هنر کارولی نو ځکه مې باور پوخ ساتلی.

موږ که څوک د یوې برخې د مشر په توګه ګورو، لومړنۍ سپارښتنه او لورینه مو دا وي چې ورته وایو اشنا فکر دې ساته تر لاس لاندې خلکو ته ریښتیا مه وایه، یا هم دا چې هر یو ته بیله بیله خبره کوه نو ته به بریالی یې.

همدا حالت دی چې کله مو کوم دوست له یوې ادارې رخصتیږي یوه پسې ژاړي سل پرې لعنت وایي.

------------

- ❖ زه به د جونګړو د الفت سندرې وایمه

تاسو که ستائینه زرپرستو! د محل کوئ

نیت مو که منزل ته د مقصد د رسېدو وي نو

شپه ورځې مزل کوئ، مزل کوئ، مزل کوئ

ځئ د زړه په تار د ژوندون مستي نغمې وچيړئ

غېږه د ښکلا کې ذکر ځله د اجل کوئ؟

مونږه لېونو خو ياره! زړه ژبه يو کړي دي

تاسو په وينا د شېخ فريد باندې عمل کوئ

پرېږدئ پسرلي کې د ژوندون د زړه چاودون قيصې

راز سره خبرې د خوبانو د غزل کوئ

سليم راز

------------

- خاموشي د ګڼو ځوابونو ټولګه ده. زموږ د پيغمبر صلى الله عليه وسلم وينا ده څوک چې پر خداى او د اخرت پر ورځ ايمان لري يا دې ښه خبره وکړي يا دې غلى پاتې شي. زموږ لارښود عليه السلام ځان ته ملا او عالم نه دى ويلى تل يې ځان ښونکى بللى:إنَّما بُعِثتُ مُعَلِّما

نو پر موږ هم د هغوى درناوى لازم دى چې يو څه يې راښودلي، که د څښتن تعالى کتاب يې را اورولى او که يې ساينس، ټکنالوژي، ادبيات او نور ژوند را زدده کړى.

خداى دې ترې راضي شي.

------------

- نجاة السيد داود مصرى ميرمن ده. په علمي رتبه ډاکتره/دوکتوره ده. په ګڼو قضايي چارو په ځانګړې ډول د مېرمنو د حقونو لپاره د اسلامي اصولو اړوند ادارو ته سلامشورې ورکوي. په مصر، سعودي او الجزاير کې د پوهنتوني استادې او فقهي عالمې په توګه يې دندې سرته رسولي. (محاصرات في قواعد الفقه الكلية) په نوم کتاب يې د الازهر په ګډون ډېرو پوهنيزو ادارو کې تدرسيږي.

(احکـام الظهـار فـي الفقـه الاسـلامي) يـې يـو بـل نـامي اثـر دی چـې ۱۹۹۰ کـې چاپ شوی، لسګونه نور علمي اثار او څېړنيزې مقالې يې ليکلي.

لنـډه دا، ارمـان هلـه درځـي چـې لـه دومـره لويـو دعـوو سـره مـوږ پـه پښـتو او دري ژبـو کـې پـه ټـول تـاريخ کـې دومـره دينـي کتابونـه او اثـار نـه دي ليکلـي لکه دې يوې ميرمنې چې ليکلي.

ورسـره يـې دا هـم ثابتـه کـړې چـې يـوه مسـلمانه مېـرمن د اسـلامي نـړۍ د عالمـانو او پوهـانو مـنځ کـې خپلـې وړتيـاوې ښـودلی شـي، کـه مـو تعلـيم فـرض وبالـه لـه هغـې ليوالتيـا سـره چـې زمـوږ خلـک يـې لـه ديـن او زده کـړو سـره لـري، د نجـات دا ډول پرښـتې بـه مـو د هيـواد هـر کالـه کـې د پـوهې وزرې وغوړوي.

خدای مو دې سم کړي!

------------

❖ لـه خپـل حالتـه تـش شـکايت او مايوسـه ژونـد تـه ډېر وهـل د ناکـامۍ هغـه پړاو دی چې له بريالي راتلونکي سره دې اړيکه پرې کوي.

او زمـوږ خـو ددغـه اړيکـې پـرې کېـده زمـوږ د ژبـې لـه شـاعرۍ ښـکاري. د اوروپـا پـه ژونـد کـې بـه تپـې ليکـي چـې او زه خـان ملـک خـو داسـې نـه وم، ميرات ميرات شوم د کوڅو ملنګ دې کړمه!

ظالمـه ملنـګ نشـوې کارتـه جـوړ شـوې وطـن کـې دې بـې زحمتـه خوړلـه د کاکا او ماما له برکته.

------------

❖ د حضـرت محمد صـلی الله عليـه وسـلم د زوکـړې بختـوره ورځ پـه اوس کـې څکـه د لمـانځنې او يـادونې لپـاره اړينـه ده چـې، د هغـه مبـارک انسـان پـه لاس د رڼـا پيلـوزې د نـاپوهۍ پـه تيـارو پوښـلي کونجونـه روښـانه ، د بشـري حقونـو او لـوړو اخلاقـو رسـالت يـې پرڅـای کـړ، خـو دغـه پيلـوزه چـې سـلګونه کالـه وروسـته مـوږ تـه راپـاتې ده، نـړۍ تـه مـو يـې بـدل انځـور ورکړ،پـه خپلـو کليـوالي روايـاتو مـو بلـه وسـاتله او د

علـــم او پـــوهې پـــر وړانـــدې د دیـــن پـــه ســـیوري کـــې د جهالـــت د تـــورې دورې قبیلوي ننګ مو په الهي حکم غوره  وباله.

پـــر دې ورځ بایـــد نـــوي نســـل تـــه د نبـــوي ســـیرت درس ورکـــړل شـــي او وریـــاده شـــي چـــې زمـــوږ ارزښـــتونه زمـــوږ د لاربښـــود پـــه وجـــود کـــې څـــومره عـــالي او کمساري دي.

بایـــد نـــړۍ تـــه یـــاده شـــي چـــې ددې دور انســـان هغـــه احکـــام نـــه دي منلـــي چـــې زمـــوږ لاربښـــود تـــر مړینـــې وړانـــدې پـــه وصـــیت کـــې اورولـــي وو، او پـــه ټینګـــار یې ویلي و چې د ښځو پر وړاندې چلند کې له الله تعالی وویرېږئ.

یـــا ربـــي أخرجنـــا مـــن ظلمـــات الجهَـــلْ والـــوهم إلـــی أنـــوار المعرفـــة والعلـــم ومـــن وحول الشهوات إلی جنات القربات

------------

❖ نېکمرغـــي هرځـــای شـــته، خـــو کـــه یـــې د پېژنـــدلو وړتیـــا ولـــرې خپلـــه دې ده.

------------

❖ کابـــل او واکمـــن یـــې کـــه پـــه هـــر رنـــګ اوښـــتي، دا ژیـــړه ودانـــۍ هماغـــه د قربـــاني کابلیـــانو زبېښـــلو رنګونـــو تـــه ورتـــه پـــاتې ده، هغـــه قربانیـــان چـــې ســـرو لیوانـــو تـــه وفـــادارو د شـــرقي ښـــامار پلـــوالی تـــه ټېـــل وهـــل او تـــر پښـــو شـــنو غازیـــانو پـــرې د خپلـــو پـــاټکونو او کوڅـــه پـــه کوڅـــه د فرعـــوني واکمنیو مېچنې وګرځولې.

کابـــل کـــه د لوېـــدیځ د شـــتمنی پـــه لوټېـــدا کـــې شـــور کـــاوه او کـــه لـــه ســـمڅو د اتلســـمې پېـــړۍ راوتلـــو فکرونـــو تـــه خـــاموش دی، همـــدا دوه رنګونـــه نـــه دي بـــدل- د وطـــن د وګـــړو د وږو خېټـــو مړولـــو تـــه جـــوړه د ســـپلو ودانـــي او د هغـــو ښـــاریانو رنګونـــه چـــې د سیاســـت  هـــر بـــدلون کـــې ژیـــړ زبېښـــلي وي، کلـــه پـــرې رېږې اوړدې او کله پرې له سرونو سرې ټوټې ترلی شي.

------------

❖ ایمان له تجربې وړاندې حقیقت درک او پېژندلی شي.

جبران خلیل

------------

❖ د پښېمانۍ ځواک؛

ډانيـل ایـچ.پینـک پخپـل کتـاب The power of Regret یـا د پښـېمانۍ ځواک کې لیکي:

پښـېماني یـوه تـل پایـه سـزا نـه ده، بلکـې هغـه څـراغ دی چـې تاسـو مـخ تـه پرتـه لار پرې د راتلونکي لپاره رڼا ساتئ، او د موخې درک درته جوتوي.

نـو کـه لـه هـرې پښـېمانۍ کړېـږئ لـه همـدې اړخ ورتـه وګـورئ چـې همـدا ستاسـو د ناسـمې خـوا سـره د مخـه ښـې شـېبه وه او نـور یـې د تکـرار لـوری نـه نیسئ.

------------

❖ ډاکټـر اباسـین یوسـفزی یوځـای د یـوه افغـان شـاعر مـلا بسـمل یـو شـعر لـولي. خبـرو کـې وایـي، کابـل کـې وو، یـو ښایسـته سـړی راغـی ،ښـکلې ږیره یې وه ملا هم و او دا بیت یې ووایه:

مرګی حق دی خو دا خوند نکړي بسمله

چې د تره زوی دې ژوندی وي او ته مړ یې

ماتـه تـر شـعر ډېـر د اباسـین صـاحب یادښـت خونـد راکـړ چـې د مـلا، او ږېرې یادونه یې په څومره درنښت وکړه.

دا پـه پښـتونخوا کـې یـوه لـه تـر ټولـو لویـو ښـېګنو ده چـې یـو سـړی سـرتور ګرځـي خـو چـې جومـات تـه ننـوځي لـه سـره رومـال تـاووي او یـا خـولۍ پـر سروي.

د سـینما پـر پـرده د پنجـاب لـوڅې نڅـاګرې یـې ننـداره کـړې وي چـې راووځي جومات ته به منډه کړي وایي جي اودس به وکړو.

شاعر، سندرغاړی، ملت پال ، د مدرسي مفتي او سیاسي ملا یې پر ستیج د یوه بل مخالف وي خو دوډۍ ته پر یوه دسترخوان کیني، لوی لوی دیني عالمان یې له موسیقکارانو سره ناستې ولاړې لري.

همدغه زغم د پېښور سینماګانې او د حقانیې مدرسه ګاونډیانې ساتلې.

برخلاف زموږ منځ کې ملا صاحب د مرچو پر بوجۍ ناست وي د خپلو کلیوالو جنازو او ښادیو کې د واړه اختلاف له امله ګډون نه کوي.

که ملا واکمن شي ملت پال فراریان وي، که ډیموکراټ واکمن شي ملا په منډو وي، کله خو ډیموکراټان مو تر هرچا ډېر افراطیان وي.

ښایي زما خبرې تکرار وي، خو هر وخت پر دې فکر یم تر هغه چې زغم نه وي ملا او سندرمار یوبل ته غاړېنوځي د یوه بل درناوی ونشي کرکه به وي- خدای دې یې ورکه کړي.

------------

❖ انسانان د خپلو نیمګړتیاو له امله له ازمایښت سره مخ کېږي، له ځان سمولو سره د ښو ورځو تمه وکړئ.

د الله تعالی پرېکړې پر انصاف او عدل ولاړې دي.

إِنَّ اللَّهَ لا يَظْلِمُ النَّاسَ شَيْئاً- الله خلک په هیڅ بڼه نه کړوي، او پر مخلوق د هیڅ شي ظلم نه کوي.

------------

❖ د هر فکر خلک واورئ، تر ځان مشر ته لا ډېر غوږ شئ، سفر وکړئ. دا د زده کړې غوره درکونه دي.

------------

❖ د جغزافیې زندانیان نومې کتاب لیکي:

روسیه د نړۍ تر ټولو لوی هیواد دی، تر چین او امریکا دوه وارې لویه ده، تر هند پنځه ځله لویه ده، د برېتانیې تر جغرافیې۷۰/اویا وارې

پراخــــه ده. دغلتــــه ۱۴۴ میلیونـــــه وګــــړي ژونــــد کــــوي چـــې د ډېـــــرو وړو هیوادونـــــو لکــــه د نایجریـــا د وګــــړو لــــه شــــمیر ســــره برابــــر دي، خــــو دوئ دومــره ســر شــاره دي چــې د نــړۍ ځواکمنــو هیوادونــو تــه هــر وخــت جــګ لټــي ولاړ دي. پــه تېــرو ۵۰۰ کلونـــو کـــې پـــرې څـــو وارې مخـــامخ یرغلونـــه شـــوي خــو خپلــه جغرافیــه یــې لا پراخــه ســاتلې، ان یــو وخــت خــو یــې د اورال لــه غرونـــو تـــر هنـــدوکش لمنـــو لاس ورســـېده او د افغانســـتام پـــه لانـــدې کولـــو یـــې خیــال و چــې د هنــد ګرمــو اوبــو تــه بــه ورســي. لیکــوال ددې خلکــو تینــګ روســی دریــځ د هــوډ مهــم اړخ بــولي، ډېــره خــاوره یــې د اســیا لویــه وچــه کــې ده، وایــي یــو وخــت مــې لــه یــوه روســي کــامره مینــه هغــه ځــای کــې د کــار پوښـــتنه وکـــړه چـــې اوروپـــا ختمیـــږي او اســـیا تـــه اوړي چـــې تاســـو د کـــومې ســیمې اوســیدونکي یاســت اســیایي یــې یــا اورپــایي؟ وایــي ســړی لــږه شــېبه غلــی شو او بیا یې ځواب راکړ - یو هم نه یم زه روسی یم.

نـــو د انګریـــز لیکـــوال تـــیم مارشـــال د «جغرافیـــې زنـــدانیانو» کـــې راتـــه د ســـایل صاحب شعر راوغورځېده:

که لږ پخپله ځمکه ودرېدې اسمان به شې

------------

- ❖ تـــاریخ د هوښـــیارنو پـــه وطـــن کـــې د پېښ او زرګـــر هټـــۍ کـــې هغـــه انځـــور دی چـــې دوئ ورتـــه ګـــوري او تـــرې د پرونـــي لوښـــي کـــوږوالی او ناســـم جوړښـــت پـــه ننـــي هغـــه کـــې لـــه منځـــه وړي. د سیاســـتوالو کالـــه کـــې د هغـــوو یادښـــتونو کتـــاب دی چـــې لـــه تېروتنـــو یـــې زده کـــړه او د ښـــېګڼو او پرمختګ نوې لارې پکې ګوري.

تـــاریخ د مغـــرورو او نـــاپوهو پـــه وطـــن کـــې پـــر دېـــوال د ښـــکار شـــوي ښـــاروي ځړېـــدلی ښـــکر دي چـــې تـــش ډول یـــې پـــرې جـــوړ دی او د ځـــان د زنـــده بـــاد هغـــه شـــعارونه چـــې د ســـرتېرو پـــر قبرونـــو لیکـــل شـــوې وي، هلتـــه د پـــرون او نن توپیر نه کېږي.

------------

❖ د انسان جامه اخلاق دي، او د دغو جامو جېبونو کې د ژوند د هر پړاو بریلیک ځایدلی شي، خو که دا جامه نه وه د دوکتورا، ماسترۍ او هېڅ دورې سند دې په لوڅ وجود نشي نښتلی حتمي به غورځي.

------------

❖ د نامتو دیني عالم شیخ صالح الفوزان له نکله دي چې وایي هغوئ چې زغم نه لري دین هم پکې نشته، هغوئ چې بې صبره او بې زغمه دینداري کوي داسې دي لکه بې سره تنه او دا ځکه چې زغم یا صبر ته د دین سر او مغز ویل شوی.

صبر دی چې په ژوند کې مو له افتونو، او هر ډول تیندکونو ساتي.

------------

❖ ویجاړي یوازې پر ماین الوځول شوي سړکونه او د الوتکو پر بمونو ویجاړ کلي نه دي. ویراني دا هم ده چې قاضي پټ مخ د توت د ونې لاندې د محکمې داسې حکم اوروي چې تمیز طلبي او ننګولو حق پکې نشته.

ویجاړي دا هم ده چې حجرې،دیرې د هغو سیاسي بحثونو ځایونه وي چې عموما د هیوادونو پارلمانونو کې کېږي.

کور ورانی هلته هم احساسولی شي چې د ټولنې متمدنه برخه یوازې د پرمختللې نړۍ جامې او نیکټایی ته تمدن او پرمختګ وایي، او وطن تش په سندرو جوړوي.

او د غرقېدا ویره هله ډېره شي چې د ریاضي ښونکی ټولګي ته په ننوت زده کونکو ته ووایي درځئ نن به شعر او شاعري وکړو.

------------

❖ الاوسط ورځپانه: د طالبانو یو پلاوی چې د فلسطین، مصر، لیبیا، لبنان، إریتریا، ترکیې او سوریې د دیني عالمان یوې ناسته کې د ګډون لپاره ترکیې ته تللی و، د لیبیا د یوه اسلامي خوځښت د

پخواني مخکښ مشر او مفتي سامي الساعدي سره په ناسته کې د افغانستان پر اوسمهالو حالاتو خبري کړي.

سامي څوک دی؟

د ورځپاڼي له نکله هغه د لیبیا د وسله والو د اسلامي ډلې ایل ای ایف جي تر ټولو یاد مشر و چې وروسته د دغه ډلې فعالیتونه ناقانونه اعلان شول او معمر قذافي هغه اسلامي ډله د ترهګرۍ نوملړ کې راوسته.

دغه ډله په ۱۹۹۵ کې لیبیا کې د جهادي فعالیتونو په نیت جوړه شوې وه. سامي د طالبانو په پخواني حکومت کې افغانستان کې ژوند کاوه د ۲۰۰۱ کال بدلون پرمهال چې امریکا پر افغانستان پوځي یرغل وکړی هغه د خپل یوه بل ملګري عبدالحیکم بلحاج سره یوځای ونیول شو او بیا د لیبیاحکومت ته وسپارل شو. له ۷ کاله زندان وروسته ازاد او بریتانیا کې یې پناه واخسته. سامي د معمر قذافي د واکمنۍ له نسکوریدو وروسته بیرته خپل هیواد ته ستون او په طرابلس کې مېشت شو.

سامي الساعدي د اکتوبر پر ۲۰ استنبول کې د دیني عالمان په غونډه کې له طالبانو غوښتي و چې د نجونو ټرلي ښونځي دې پرانیزي.

الاوسط ورځپاڼي خپرو کړو انځورونو کې لید کیږي چې دغه لیبیایي مذهبي مشر په دودیزو لیبیایي جامو کې د طالبانو له پلاوي سره غږیږي، د طالبانو پلاوي کې د هغوئ د بهرنیانو چارو وزارت استازی ولي الله شاهین د اطلاعاتو او کولتور وزارت یو چارواکی او د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد لیدل کیږي.

------------

- ❖ ډیر کله چې یو څوک اړ وي خبرې وکړي نه غواړي پر خبرو او بحث یې قضاوت وشي. که تاسو د مقابل لوري پر خبرو قضاوت کوئ نو هغه ته د ځان کابو کولو او سانسور تر څنګ د بې باورئ لامل ګرځي.

سم لاسي د یوه چا په اوریدو قضاوت نا انصافي ده.

------------

- ❖ د خبرو پر وخت يوه ترټولو اسانه او د ځان لوړ ښودلو لار مقابل لوري ته نصيحت کول دي. خو دا نا مناسبه چاره ده چې که يو څوک له موږ د حل لارو غوښتنه ونکړي، د نصيحت اجازه مو تر ې نه وي اخستي او له يوه سره نصيحت پيلوو او چاته وايو چې دا کار وکړه دا مه کوه.

ښايي ستاسو د ژوند تجربې له نورو سره يو ډول نه وي همانغسې حل لارې هم ممکن بدلې وي.

زه هم دا نصيحت نه کوم چې تاسو ته وايم ناصح مه اوسئ يوازې د يوه کتاب له يوې پاڼې د خبرو د هنر يوه برخه مې رانکل کړه.

------------

- ❖ تېرو کلونو کې به د هر چارواکي پر کاري مېز لويه ښايسته دړه باندې دا حديث ليکل شوی و (لعن رسول الله ﷺ الراشي والمرتشي..)

د کال پای کې به افغانستان د نړۍ تر ټولو درغل او فاسد هيواد اعلان شو.

اوس چې چارواکي غونډو کې د وينا پر دريځ ودرېږي د قران کريم دا ايت به ولولي (إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا..) او بيا به د ديني زده کړو يو نيمچه عالم د طبابت، انجنيرۍ يا د بل مسلک اړوند ادارې پر لوړه دولتي څوکۍ د ګمارنې اعلان وکړي.

له دې ښکاري چې موږ افغانان څومره صادقان يو، پر ځان پخپله عريضې کوو، يا دا چې د څښتن تعالی او د هغه د پيغمبر ويناوې د خپلې روا او ناروا دواړو لپاره کاروو.

------------

- ❖ زاړه لوښي قيمتي وي، خو که فکرونه په تېره زمانه کې بند پاتې شي او زاړه شي زهرجن کېږي لاس او پښې به مو شلې کړي. نړۍ

به هسکو ته الوت کوي ته به په داسې سمڅه کې پروت يې چې د خيرات غوښتلو لپاره د لوړ غږ وسيله به هم نلرې.

که سل کلن هم يې د ننني عصر د مزل هنر زده کړه، ځکه خو وايي؛ ژوند له زانګو تر ګوره زده کړه ده.

اطلبوا العلم من المهدِ الی اللحد

------------

❖ له راتلونکي بدلون سره مقاومت مه کوه. پرېږده چې ژوند په تا کې و اوسيږي. انديښنه مه کوه چې ژوند دې په بل مخ کيږي، ته له کومه وايې چې د ژوند پخوانی مخ ستا لپاره ښه دی؟

الف شفق- د ميني ځلوېښت قواعد

------------

❖ له هلمنده يو اورېدونکی سهارنی خپرونه کې بي بي سي ته وايي په کليوالو سيمو کې چې څومره هم د جوماتونو ملا امامان وو يا کوم سړي ديني زده کړې درلودې ټول يې ښارونو ته تللي او چاړواکي شوي، کليو کې د جنازې د امامت لپاره هم څوک نه پيدا کيږي دولت نه غوښتنه لرو چې ددې ستونزې حل ولټوي او زموږ امامان بيرته راولېږي.

------------

❖ اور د جونګړو د بنګلو خواته راورسېده

ماخو ويل چې د اورونو کاروبار ښه نه دی

چې تيروتلی څوک د ښکلو په درواغو نشي

سړی هوښيار ښه دی خو دومره هم هوښيار ښه نه دی

رحمت شاه سايل

------------

❖ ځــو کالــه وړانــدې کابــل کــې مــدني فعــالانو د پاکســتان خــلاف لاریــون کړی و اخر کې یې د نایجریا بیرغ ته اور اچولی و.

د نایجریــا او پاکســتان بیرغونــه لــه شــنه او ســپین رنګــه جــوړ دي خــو بڼــې یــې بیخي جلا دي.

------------

❖ یوځــای لیکــل شــوي، هرکلــه چــې دې د زده کــړې تــوان لــه لاســه ورکــړ زوړ یې، هغه که شل کلنی کې وي او که یا هم اتیا کلنی کې وي.

------------

❖ خــدای تعــالی ټولــو انســانانو تــه پــه بیــا بیــا د پرېکــړو وس او موکــه ورکــوي. دا پــه انســان پــورې اړه لــري چــې کــوم لــوري تــه د تــګ پرېکــړه کــوي، او یــا دا چــې لــه لټــۍ همداســې بــې هدفــه پــایي او بیــا وایــي قسمت راسره یاري ونه کړه.

------------

❖ کــه تــل دا ټکــی پــه پــام کــې وســاتو چــې ایــا زمــا خبــرې پــر نــورو ځــه اغېــز پرېباســي، ځــوک احساســاتي کــوي، ځــوک خفــه کــوي او یــا دا چــې زمــوږ پــه اړه د نــورو بــد ګمــانۍ راولاړوي نــو هیڅکلــه بــې تولــه او ناســنجیده خبرې نه کوو.

ستاسو دوښمنۍ ډېر کله ستاسو له وینا پیدا کیږي.

خپله ژبه هم کلا ده هم بلا.

------------

❖ لــه کامــل خــدای ســره مینــه اســانه ده چــې لــه هــرې خطــا پــاک دی. خــو لــه انســانانو ســره مینــه ګرانــه ده چــې نیمګړتیــاوې او خطــاوې لــري. یــاد یــې وساته، پوهه یوازې له مینې سره پیدا کیږي. له مینې پرته علم نشته.

------------

❖ تر هغه مو چې د څښتن تعالی له مخلوق سره مينه نه وي کړې د خدای له پېژندنې او مينې به محروم ياست.

الف شفق- د مينې څلوېښت قواعد

------------

❖ د خوست دلاور؛

امريکايي پوځيانو پر افغانستان له يرغل سره د خوست يو ټکسي چلوونکی دلاور د ۲۰۰۲ کال په ډسمبر کې ونيوه او پنځه ورځې وروسته د سختو ربړونو او شکنجو له امله ومړ.

وروسته مالومه شوه چې هغه د ناسمو معلوماتو له مخې نيول شوی و او مرګ يې هم د پوځيانو له لوري په ناځوانه ډول و.

يوه امريکايي خبريال د هغه پر ژوند يو مستند فلم هم جوړ کړی چې نوم يې دی(تياره لور ته ټکسي کول) دغه فلم تر ټولو معتبره جايزه هم وګټله. په تېره شل کلنه جګړه کې د پښتنو سيمو ډېر بې وسه دلاوران همداسې قرباني شول، خو دی ددغو قربانيو سرلاری شو.

يوه لوېديځواله خبرياله وايي امريکايانو افغانستان کې يوه اندازه پيسې پر ډيموکراسۍ ولګولې خو تر هغه ډېرې يې جنګسالارانو ته ورکړې چې ددغه ډيموکراسۍ ساتنه وکړي، دغو جنګسالارانو همدا ډول ناسم معلومات له بهرنيو ځواکونو سره شريکول. هغه وايي له سپتمبر ۱۱ وراندې پر افغانستان بنديزونو دغه هيواد دومره خوار کړل چې حد يې نه و او بيا جنګسالارنو ته دومره پيسې ورکړل شوې چې د انسان وژل ورته ډېر اسانه او ارزانه کار ښکارېده. همدغه څه د افغانستان غليمانو ته د جګړې پاللو او جګړه مارو د کوربتوب موکه هم ورکړه.

#تاريخ

------------

❖ يو ګرځندوی عکاس هانس سيلوستر پخپل کتاب « Natural Fashion »کې د افريقا په ايتوپيا هيواد اومو دره کې د هغو

انســانانو نکــل لیکــي چــې د ژونــد بڼــه یــې د لومړنیــو انســانانو هغــې تــه ورتــه ده. هغــه یوځــای لیکلــي دغــه قبــایلي خلــک چــې خپلــو ماشــومانو تــه د خــاورو لــه رنګونــو د مــخ ســینګار کــوي، او پــر ســرونو د ګلونــو او نــورو ښــکلو بوټــو تاجونــه ســاتي تــر نــورو پــر جــلا والــي د یــوه ډول غــرور احســاس کــوي. کتــاب لیکــي دغــه انســانان لــه متمــدن ژونــد ســره هــیڅ ډول لیوالتیــا نــه لــري، بــوټي او د طبیعــت نــور تــوکي یــې جامــه او خواړه دي.

د نــړۍ لومړنیــو متمــدنو انســانانو هــم د وروســتیو څېړنــو لــه مخــې افریقــا کــې ژونــد کــړی خــو اوس دغــه لویــه وچــه او وګــړي یــې د دې دور تــر ټولــو خــوار حالت کې ژوند کوي.

عــراق د انســاني تمــدن زانګــو بلــل کېــږي خــو نــن تــرې د وینــو، کرکــو او شخړو بوی راځي.

پــه ټولــه کــې ژونــد هــم دا درس راکــوي چــې پــر پــرون نازېــدل او تــش غــرور دې غرقــوي، کــه ځــان د یــوه هوســا انســان پــه توګــه پوښــتې نــو مــه وایــه چــې پرون دې څه کړي پوښتنه دا وکړه چې نن څنګه یې؟

د اومو دره ایتوپیا قبایل

------------

❖ بریا زر پلرونه لري خو ناکامي تل یتیمه ده.

جان اف-کنډي

------------

❖ چې ستا دمخ دخال خبرې خپل ارمان ته کوم

دزړه په للمه کر دسرو اوښکو باران ته کوم

لکه ګلاب خپله قصه په وینو وینو شــونــډو

په هر سپرلي کې خامخا یو ځل جانان ته کوم

ستا په جاګیر دننه هم په کلي پاتـــــې نه شوم

ځان ورکومــــه لاړم کډه بیابـــــان تــــــه کوم

دسربازی په جذبو ډکې شوې دخیال هدیرې

زه به ترکومې ګدیده خوشې میدان ته کوم

ستا بې ننګئ وژلې نه یم رنځولې ئــــــې یم

چې ستا دعا راته یادیږي ښیرې ځان ته کوم

څه دستم دبې وسې په ورځ پیدائې مینې

زه په خطا ګناه دزړه دګل کریوان ته کوم

دزړه کتـــاب لـــولمه ټوله شپـــه رونوم

زه تیاري دجانان نـــوي امتـــحان ته کوم

رحمت شاه سائیل

------------

❖ د مینــې او خواخــوږی اړیکــه د کرکــې لــه املــه لــه منځــه ځــي، کرکــه ډېــر کلــه لــه بــدګمانی ســرچینه اخلــي، او بــد ګمــاني نــاروغي ده. کــه پــرې اخته شئ له تل پاتې مایوسی او بې باوری به کړېږئ.

------------

❖ لــه ډېــرو پوهــانو، نوښــتګرو، لایقــو او هنرمنــدو انســانانو د شخصــیت د نیمګړتیــا شــکایت کېــږي. وفــادار نــه وي، ټــولنیز نــه دي، لنــډپاري دي، د ښــې ملګرتیــا پــالونکي نــه دي، دیــن او کولتــور تــه پــه بشــپړه معنــا ژمــن نه دي او ګڼې نورې نیوکې.

دا ډول ســتونزې ښــایي پــه عــادي خلکــو کــې لا لــوی او عــامې وي خــو څــوک پرې نیوکه نه کوي او نه یې یادوي.

له پوهانو او لايقو انسانانو ځکه دا شکايت ډېر کېږي چې خلک يې له شخصيته د هغوی د هنر او علم په کچ تمه لري او دا اندول ساتل ډېر سخت دی.

------------

❖ يوځای ليکل شوي هدف دومره لوی وټاکئ چې فکر کوئ رسېدل ورته ناشوني دي. دوه کاره کېږي يا خو تاسو همدومره لويه وړتيا مومئ او يا هم تر هغه ځايه په مزل کې ګڼ نور داسې څه ترلاسه کوئ چې ستاسو خيال کې هم نه وي.

------------

❖ درناوی د اړيکو د پايښت ضمانت دی. که يوه ورځ يو لوری وي هم نه، ددغه ضمانت کاپۍ ستاسو پر سينه ځړېدلي جيب کې پاتې کېږي، له جيب سره په سمښت ستاسو زړه پروت چې وينه او مينه دواړه پکې د ژوند تر وروستيو چليږي.

نو د يوه بل درناوی پکار دی.

------------

❖ سبا پيښېدونکي بدلون ته انسانان له دې امله بې پروا نه دي چې ګواکې دوئ له ننه خوند اخلي بلکې د ژوند درواغجنه هيله، غرور او بې غوري ورکوي.

که تاسو پرونيو چارواکو ته دوه کاله وړاندې ويلی وای تاسو به څو مياشتې وروسته نور واکمن نه ياست څه غبرګون به و؟

-دتمسخر خندا او غوسه دواړه.

که ننيو ته ووایاست ستاسو راتلونکی نه دی مالوم چې کله به مو قدرت پايی مومي، درته به د خپل ځواک يو لوی نوملړ رامخې ته کړي او د خدای د پرېکړې پر وړاندې به د خپل دوام دلايل درته وايي.

که څوک باوري وای چې د واک، شتمنۍ، او ځوانۍ موده یې تل پاتې نه ده، ډېرو به د وخت ارزښت او دښېګنو قدر ژر پېژندلی.

------------

❖ د نړۍ ډېرو ټولنو کې پرځېدلي او جلا وطنه شوي سیاستوال که د نا اهلۍ له امله یې هم واک بایللی وي په دوديز ډول دوه کاره کوي. د خپلو ناکامو تجربو او بریالیو چارو یادښتونه د کتاب په بڼه خپروي، او یا خو خیریه بنسټ پرانیزي چې د وطن د خلکو د خدمت ورپاتې تنده پرې ماته کړي.

همدا کار يې تېر بد ورپټوي او ولس کې ځای مومي.

تر پوزو درغل سیاستوال د مرګ تر بریده بیا ببا د واکمنېدو هڅه کوي، او په چل ګټلې د تل پاتې واکمنۍ پر خوب لګوي.

------------

❖ ژباړه

خاونده یاره ټینګ مو کړه دا زړونه په قران

وهلي موږ ناحقه دي ځانونه په قران

دچا چې بې الف هم سر کې نه شته نه بې زده دی

همدغو پښتنو ایښي سرونه په قران

خبره خو د میني یوه وي سترګو کې وشي

نو اوس راباندې څله ږدې لاسونه په قران

دا ته سپېره لغړه بې که زه د بنګړو بار

ماتیږي هر سپرلي کې مو لوظونه په قران

کعبې ته د حلالې نڅا شرنګ په رسېدو دی

کابل کې څه خواږه دي اذانونه په قران

منکر په هسکو هسکو محلونو کې ديره دي

او ږنګ زموږ د خوارو دې کورونه په قران

---

دا نثر په شعر ومنئ

------------

❖ ستاسو د باور ملګري هغه دي چې د خبرو پر وخت ورسره ډار نه لرئ ښکنې او بدی دواړه ورته وایاست، او هغوئ بیا د سپکاوي احساس نه کوي، انګيري مخاطب يې غليمانه فکر نه لري.

که هر ملګري سره ناسته کې تر مسلو ډير پر لفظونو فکر کوئ، پوه شه چې باور مو پر نازک تار تړلی، د ملګرتيا حساب مه پرې کوئ.

------------

❖ البته خبرې ښې، ښې دي.

خواږه انسانان په خوږه نړۍ کې ژوند کوي، کرکجن خلک کرکجن ژوند لري. ستاسو نړۍ هماغه ده څه ډول چې تاسو ياست.

وين داير

------------

❖ زهر يې هم وشېندل لپې لپې شات هم ويشي

دلته يو کس دی شوکه هم کوي خيرات هم ويشي

ما د خپل سر قاتل په پټو سترګو وپېژندو

چې مې پر قبر څېرې هم غوړوي سخات هم ويشي

جبر يې هم د نظر وړم، سترګې پرې هم خوږوم

خلک هم وژني خو جامونه د حيات هم ويشي

------------

❖ د ماتې او ناکامۍ يو لوی لامل تسليمي ده. ښايي تاسو په يوه داسې موکه د ډډې وهلو او يا شاتګ پرېکړه کړې وي چې بري ته به مو ايله څو ګامه پاتې وي.

نو ځکه خو راز صاحب وايي:

نيت مو که منزل ته د مقصد د رسېدو وي نو

شپه ورځې مزل کوئ، مزل کوئ، مزل کوئ

------------

❖ د کرېکټ دوه نړيوال جام سيالۍ مې رپوټ کړي، له کرېکټ والو سره مې اشنايي هم ده خو هغسې چې زموږ د کلي د زرباز لالا او مولوي صاحب کوثر پرې سر خلاص دی زما زده نشو، يوازې همدومره چې چا څو منډې وکړې، څوک ښه وځلېده، لوبه چا وګټله د همدغو پنځوو شپږوو پوښتنو د ځواب تر برېده.

هر مسلک د زړه ژورو ته کوزېده او مينه غواړي، ښايي زما مينه کې ورسره تګي وي.

افغانه لوبډله دې بريالۍ وي، زموږ يې همدوئ پکار دي.

------------

❖ يو ځای لولم، هغه درد چې انسان خاموشۍ ته مجبوروي له هغه درده ډېر زورور دی چې انسان ترې کوکې وهي. بدمرغي داده چې موږ په چيغو پسې ځو، معنا درانه دردونه هيروو او مرحم نه ورته لټوو، ځکه خو بدمرغي اوږدېږي.

------------

❖ تا هنر د سردارۍ نه زده بهرامه

سرداري دې په خپل دور کړه بدنامه

هم تمامي خېلخانې لره بلا شوې

هم خپل ځان لره بلا شوې بد فرجامه

تا طاهر د کم عقلۍ په جرګو مړ کړ

اوس فارغ شوې د طاهر له انتقامه

تا خپل ځان لره د مرګ رخه پیدا کړه

خېلخانه دې په بدخوي کړه بې آرامه

په دا هسې بدخویي بې بخته نه یې

چې لا نه یې د خوني هاتي تر زامه

مشر ورور دې په زندان کړ ته خاني کړې

دا خاني دې شه په ځان پورې حرامه

چې خاني ته دې هوس د زړه په زور کړ

لا ځایي وه ستا د زړه اندېښنه خامه

خوشال خان خټک

------------

- ❖ د ژوند لومړنی او وروستی پړاو سره ورته دي، بختور هغه چې په دا منځني پوړ کې تېرې پخپله خوند واخلي او د نورو لپاره هم ازاري نشي.

------------

- ❖ د شخصیت ځواکمنتیا او کمزوري دواړه د انسان برخلیک ټاکي. تر هغه چې پر خپلو کمزوریو او ځواکمنو ځانګړنو پوه نشئ هیڅکله به د خپل برخلیک لوري ته پر خپل زړه ګام پورته نه کړئ.

تل به وایاست:

دا د قسمت څه بدرنګه لوبه وه

ساز يې کړم اغاز يې کړم انجام يې کړم

نو که  پر برخليک پوهېده غواړئ ځان پېژندنه ورته مهمه ده.

------------

❖ د چا پر ناکامۍ او پرځېدو جشن او خوښۍ مه کوئ. کله چې خپله ماته وګورئ تر ټولو ډېر به مو همدغه جشن وکړوي چې د نورو پر ماتېدو مو کړی و.

سترګې به بيا څنګه غړوې په اشنايانو کې...

------------

❖ هر کار په نيت پورې اړه لري، يوازې مينه او درناوی دی چې بايد عمل کې وليدل شي.

------------

❖ پر موکو پسې لالهانده او فرصت طلب انسان د پېښو بچی دی. د تل لپاره پر ځان د واکمن پښې ښکلوي، پر دسيسو او د بل پر کمزوري کولو ډاډمن وي، د خپل راتلونکي په اړه وېره لري، تر ځان کشران په خوږه ژبه ځپي خو لويه سزا يې داده چې تل د خپل مقام بايللو له ډار سره زليل عمر تېروي، او يوه ورځ له لاسه ورکړي باور وروسته ګوښې رنځيري.

مصطفی احمد

------------

❖ هغه خلک جګړه ځپلي نه بلکې د جنګ تنده غري دي چې خبرېال يې د يوې وسله والې ډلې له مشره د مرکې سر کې پوښتي:

صاحبه دې وروستيو کې ستاسو د بريدونو درک نشته خير خو دی؟

------------

❖ دې انځور ته يې ليکلي، دلته اصليت مهم دی چې پوړی/زينه ده او سمه پرته ده.

هغه چې ستا د سيوري پر کاږه انځور قضاوت کوي ګناه يې خپله ده، پروا يې مه کړه.

------------

❖ نسيمه ورو ځه، له زخمي ګلونو اوښکې راځي

لکه په خامه بهانه د نجونو اوښکې راځي

ځنګه بې ځښو، ځنګه خنديږو راته زهر دې شي

په اباسين کې دکابل د غرونو اوښکې راځي

کاروان

------------

❖ هر ډول پانګه، که ونه لګول شي کورنۍ ته به مو ميراث شي. يوازې د مهربانۍ پانګه ده چې له لګولو وروسته يې مېراث شته، نو بايد همدا نن يې وکاروئ. څوک د دې ضمانت کولی شي چې سبا به ژوندی وي؟

------------

❖ دا سمه ده چې له جنګياليو د حکومتولۍ تمه منطقي خبره نه ده خو د افغانستان ډېر مشران داسې وو چې هم يې جګړه کوله او هم ښه حکومتولي.

نادر خان د جګړې ښه قومندان و، ورسره د افغانستان د وروستۍ پيړۍ د پوځي بنسټونو، نظامنامې او نورو قوانينو بنسټګر هم و.

تاريخ

------------

❖ په خزان کې د بوستان په ونو راشه

څه و، څه شو بیا پوشش د زماني

کله مځکه سپیره ډاګ کله ګلونه

څه امید په ارایش د زماني

خوشال خان خټک

------------

- ❖ هر څومره مو چې د انسان پېژندنې هنر پیاوړی کېږي هومره مو د یوازېتوب خوند او زغم ډېرېږي.

------------

- ❖ د زده کړو لپاره شعور درلوده د پوهې ارزښت زیاتوي. دغه افغان انسان د عمر دې پړاو کې د شعور پر وزر هسک ته الوت کړی او له شپیته کلنۍ پورته عمر کې یې له سید جمال الدین افغان پوهنتونه د لیسانس دوره بشپړه کړې.

ډاډه یم چې د خپل عمر پلمه یې زده کړو ته نه ده کړې رواج به هم د دین پر نامه پلمه نکړي او لور او زوی دواړو ته به د تعلیم اړتیا او فرض یو ډول ګڼي.

------------

- ❖ هغه ور چې تل پرانیستی، مور له لټی یا په پیری یا په سختۍ کې ورځوو.

------------

- ❖ سره سینه او ارام مزاج د یوه ځواکمن قومندان د بریا هغه وسیله ده چې ټولې وسلې یې پر وړاندې ماته خوري.

------------

❖ مېرمن قمر ګله په یوه وروستۍ مرکه کې وایي« د خدای له دره نهیلي نه ده پکار، پر کومه واله/ویاله چې اوبه تللي وي بیا پرې راځي» د دغه خدای پرستې افغانې ارواه دې ښاده وي.

پر ګور یې نور.

------------

❖ زه لکه په دښته کې ولاړه وچه ونه

هیلې دومره هیلې دي چې مکوه پوښتنه

ژوند ددې بازار په یوه لاره کې هم نشته

دومره خاموشي خو به مې ورک کړي له وطنه

څمه چې وعده د بیا لیدو یې پوره شوې

بیا به راته وایي چې دا ولې دروغجنه !

خاورې د ولس په اننګو باندې پرتې دي

ګرځي ډلې ډلې رهبران سپینه لمنه

چا چې ښایستونه درته وښودل درځاره

تا له هغو سترګو نه هم ونکړه مننه

میوند درځار

------------

❖ د بې وزلې نړۍ جنګیالي د خپل هیواد پر ورانۍ اتلان وي، مدني فعالان او ښځینه فعالانې یې د خپل کور له رسوایۍ پرته بل شهکار نه لري او خبریالان یې د ویر او ماتم د خبرونو په خپرولو جایزې اخلي.

مور هم د همدغې بدمرغه نړۍ بې کماله غاوره وګړي یو.

تکراري لیک

------------

❖ زمــا خوشــبينه او هيلــه مــن انســانان لــه دې املــه خــوښ دي چــې هيڅکلــه ډار نــه لــري او تــل پــه ښــکلي نــړۍ پســې ګرځــي. زمــا بــدبين انســانان هــم خوښــيږي ځکــه هغــوئ پــه کښــتۍ کــې د ســفر پــر مهــال ژغــورونکې وسيلې له ځانه سره ګرځوي.

هــر انســان يــو کمــال لــري، خوشــبينه وګــړي هيلــه درکــوي، شــاکي او بدبينــه کسان د احتياط لار در زده کوي.

د څښتن تعالی له هر تخليق سره مينه وکړئ.

------------

❖ قضــاوت کــول تــل زمــوږ د خپلــې خوښــې او ليــد پــر بنســټ وي نــه د حقــايقو او واقيعتونــو لــه مخــې، نــو لــومړی دا پلټــل غــواړي چــې زمــوږ ليد او فکر څومره سم او څومره کوږ دی.

زمــوږ د کــونړ مــرورې ولســوالي يــې ۹۰ مــو کلونــو کــې 'منــوره' ونومولــه، چــې دوئ لاړ هغــه ســيمه بېرتــه مــروره شــوه او دومــره مــروره چــې خــدای پوهيږي کله به پخلا شي.

د سيمو نوم بدلول نه لومړيتوب دی او نه هومره اسان کار..

حضــرت امــام ابــو حنيفــه لــه لــوړ علميــت او عــالي شخصــيت ســره د قضــا دنــده نــه منلــه لــه نــا انصــافۍ يــې ويــره وه، او زمــوږ انصــافدار د کرنــې او مخــابراتو پــه څيــر ســکټوري ادارو تــه لــه تجربــو او تخصــص کنګــال رنــې ســترګې ولاړ وي.

د امام صاحب کړنې زموږ لارښودې دي نه يې تش نوم.

------------

❖ د حــق پټــول«کتمــان حــق» د انســان تــر ټولــو لــوی ظلــم دی چــې د خپــل ځــان او خپلــې ډلــې لپــاره د خــدای تعــالی لــه لــوري خلکــو تــه روا حقونــه ناروا ګڼي، او پخپله ګټه دين تعريفوي.

دا ډله ظالمان فردي ګناه نه کوي بلکې د ټولنې او يوه لوی نسل ژوند پر ګړنګ ودروي.

د حق پټول تر ډېره نالوستي کسان نه کوي، يو څه پر دين خبر خلک چې د ټولنې وګړي پرې باور لري او د دوی خبرې ته پر ممبر او ډبه غوږ نيسي.

څښتن تعالی د حق پټونکي انسانان لعنتيان بللي او د قران کريم په سوره البقرة، سوره المايدة او ګڼو نورو مبارکو سورتونو کې دوی رټلي او ورته د سختې سزا ژمنه يې کړې.

او موږ د رب تعالی پر ژمنه پايو چې د ظالم تر نقاب لاندې څېره به رسوا کا.

ان شاالله

------------

❖ وايي که عيبونه لټوئ ددې پرځای چې نور په ليرې ليدونکي/ دوربين کې وګورئ هنداره يې اسانه لاره ده ځکه نږدې عيبونه درته ښيي.

------------

❖ نړی له ښو خلکو ډکه ده، خو که مو نږدې بل څوک ونه موند، خپل ښه والی/ښه توب و ازمايئ ځکه تاسو هم ددې نړی برخه ياست.

❖

------------

❖ لويي بريل د فرانسې يوه واړه کلي کې وړوکتوب کې د ليد له نعمته بې برخې شو. هغه خپلې کورنۍ ته پرلپسې ويل چې نابينا وګړي هيڅکله له نورو کم نه دي نو دی به زده کړې هم کوي او کار هم. هغه په ۱۵ کلنۍ کې د نابينايانو ليک اختراع کړ، ډېره موده يې مالي ملاتړ هم نه و خو له خپلې ارادې په شا نشو، هماغه و چې کار يې په رسميت هم وپېژندل شو ، په شل کلنۍ کې ښونکی شو او

دادی اوس یــې  نــړۍ کــې دغــه لیــک بڼــه پــر نامــه ده«برېــل لیــک/لیکــل» نــو کــه انســان پــه هــر حالــت، هــر عمــر او د کــړاو لــه هــر ډول لارو ســره مخ وي، هوډ او کار پسې کېده به یې بریا ته رسوي.

او که مو دا کار وکړ بیا به وایاست خپله لاسه ګله لاسه..

------------

- پــر افغانســتان د واکمنــې ډلــې لــوړو زده کــړو وزارت ومنلــه چــې د نجونو لپاره یې پوهنتوني زده کړې ځنډولي.

انالله وانا الیه راجعون

------------

- امریکــا او پــه ټولــه کــې لویدیځــه نــړۍ د خپلــې ګټــې ډیموکراســۍ او بشــري حقونــو ددفــاع  پــه نومونــو پــر نــورو هیوادونــو یرغلونــه کــوي، بندیزونه پرې لګوي، سیاست وال یې ګواښي.

د اســلامي نــړۍ سیاســتوال څــه چــې دینــي عالمــان یــې هــم پــه مظلومــو اســلامي هیوادونو کې د تعلیم په څیر د ژوند په مهمو اړتیاو بندیز ته خاموشه دي.

شــیخ عبدالمجیــد زنــداني صــاحب،  شــیخ ســامي الســاعدي، صــاحب او نــور چــې لــه دې خلکــو ســره ســلام کــلام هــم لــري، د افغانســتان د مســلمانو مظلومــو لونو د تعلیم حق ته څه فتوا لري؟

ایــا اســلامي نــړۍ  یــوازې زمــوږ د جګــړو بریــاو تــه دوعــا کــوي کــه زمــوږ پــر ژوند کولو  هم خواخوږي دي؟

که منافقت نه وي سپینه خبره دې وکړي.

ولې دې زموږ ښونځی او پوهنتون  وتړل شي؟

------------

❖ د اوسنیو ناخوالو او بدمرغیو په زیاتېدو د یو شمیر پخوانیو ګنهګارو داړې چینګیږي چې ګواکې دوی سم خلکو وو ارمان به یې وکړئ.

زما د وطن خلک یې تمیز کولی نشي

د ځېنو رهبرانو او د غلو رنګونه یو دي

*

خړ سپی د لېوه ورور دی!

------------

❖ سهار پر راډیو له اورېدونکو سره ژوندی خپرونه وي. له هلمند، فراه، روزګان، کندهار او تر کندوزه خلک د ورځې پر مهمو مسلو د غږېدو موکه لري. د ټولو د ورځې مهمه خبره د کوکنارو لانجې، د مرستو د ویش رسېدل او نه رسېدل او نورې کلیوالي کیسې وي له یوه نصیب الله پرته حرامه دې شي که به چا د پوهنتونونو تړل پر ژبه اړولي وي او یا یې پرې څه ویلي وي.

د دغسې بې غمه وګړو واکمن حتمي ده چې د نجونو زده کړو ته پر همدې ګروهه دي چې دا ګورو یې.

مور پرېږدوه چې په یوه ټوټه ځمکه خپل ورور ووژنو، پوهنتون که تړلی وي یا پرانستی د چا یې څه!!!

------------

❖ کریاب صاحب یوه زاړه چارواکي ته ویلي و یاره ته خو لږه دا د غیرت څکه هم وکړه چې خوږ دی که تریخ.

------------

❖ د دولتي منصبونو پخوانیو چارواکو ملي مصلحت د څوکی ساتلو پلمه یادوله او اوسني یې د امیر د اطاعت پر نامه څوکی ټینګې ساتي.

پــر خوالــه رســنیو د نجونــو د زده کــړو د ځنــډوني خــلاف غبرګــون کــې د ګڼــو پوهنتوني استادانو د استعفا لیکونه خپاره دي.

د نهیلــو افغــانو نجونــو لپــاره ښــایي دا هــم د ډاډ یــو څــه وي چــې وګڼــي یــوازې نه دي.

------------

- ❖ مـلا نـدا محمد نـدیم خپلـه تـازه مرکـه کـې ویلـي، تېـر یـوه کـال کـې یـې وکتـل چــې د نجونــو د زده کــړو پــه مرکزونــو کــې منکــرات وو نــو ځکــه یــې د پوهنتوني زده کړو ځنډولو پرېکړه وکړه.

هغــه ونــه ویــل چــې کــوم ډول منکــرات؟ کــه منکــرات د جرمونــو پــه معنــا وي خــو هــر فــرد چــې جــرم کــوي هماغــه مســول دی او محــاکم هــم شــته نــو بیــا دا ډول پلمه کله منطق لرلی شي.

منکــرات نارینــه هــم کــوي د هغــوئ د کــار او زده کــړو کــوم مرکــز هــم تــړل شوی؟ تلویزون ترې مهم اړخونه ونه پوښتل.

او تــر ټولــو د پرېوتــو اخلاقــو پیــروان خــو یــې هغــه چــې پــر ټــوپېر د محجوبــو او پتمنــو افغــانو لوڼــو د زده کــړو مرکزونــو تــه د فحشــا نــوم ورکــوي، د دیــن علما دا ډول سپک ژبي او تهمت لګونکي منافقان بولي.

منکــرات همــدا دي چــې د یــوې ټــولنې د بچــو برخلیــک ســره لــوبې کــوي، د بیت المال پیسې به هم اخلي،د کتابونو نه درناوی هم دی.

منکــرات پــه جومــاتونو کــې اتنونــه او لــه وســلې ســره ننوتــل دي، د نشــه یــې توکو د کاروبار او سود اړوند خبرې دي.

زمــوږ ټولنــه ریښــتیا هــم لــه منکراتــو ډکــه ده، خــو د ولــس ډیــر لومړیتوبونــه او د ننګ او غیرت کیسې له دا ډول منکراتو سره خواخوږې دي.

------------

- ❖ حکمتیــار صــاحب د خپلــو یادښــتونو پــه هــر کتــاب کــې د اســلامي نظــامونو د نــه تینګښــت لامــل د شــرق او غــرب لاس وهنــه یــاده کــړې،

خو اوس چې کابل کې د ښارونکي په توګه پايي ورته به جوته شوي وي چې د ولس کړوني، ويجاړي، پاروني او د نظامونو په نه ټينګښت پسې همداسې هر وار خپلو افغانانو د افراط ډانګ په لاس اخستی، خپلې سترګې يې هم ويستلې د نورو هغه يې هم.

افراطيت نه د دين برخه ده نه د ملت پالنې روايت دی.

افراطيت تل زموږ خپلو خلکو کړی، او نورو ته يې د لاس وهنې موکه برابره کړې.

------------

- د ۲۰۲۱ کال د اګست تر وروستۍ نېټې د دوحې د تړون له مخې چې وروستی امريکايی پوځي له افغانستان ووت دوئ خپلو وسله والو ته امر کړی و چې هوايي ډګر ته به نه نږدې کېږئ د وګړو ويستلو بهير کې ان د صفري قطعو سرتيري هم وويستل شول.

د رواني ډسمبر مياشتې په شلمه دوه وروستي امريکايي وګړي کابل کې له زندان ازاد شول، د جوبايډن اداري وويل دا د افغان واکمنو ښه نيت و او دا چې هيڅ مالي او د تبادلې معمله نه ده شوې. پر هماغه ورځ د لوړو زده کړو وزارت د افغانستان پوهنتونو کې د نجونو زده کړې وځنډولې.

پر ټويټر ددغه پرېکړې په ننګه يوه وينا کې اورېدل کېږي« د ښځو د پوهنتونونو په بنديدو يوه غوغا جوړه ده هغه وخت چېرې واست چې زما مدرسه بمبارېده او چاپې اچول کېدې؟»

پوښتنه دا ده چې هغوئ چې جګړه کوله که بهرنيان وو يا کورني مشران په خوندي ډول له افغانستانه ووتل، د يوه لور هم هلته پاتې نه ده چې پوهنتون يې نيمګړی شوی وي. هغوئ چې لونه يې له زده کړو ګرځول کېږي هماغه بې وسه ولس دی چې هم بمبارېده او هم پر ځمکه د وسله والو له لوري په نښه کېده، تمام عمر د خپلو ټپونو درد او ژړا يې وه،د جګړې له اړخ سره خو تړون وشو. دلته ګيله له چا ده او که غچ وي له چا اخستل کيږي؟

له ستغو او احساساتي خبرو ها خوا څه ځواب شته؟

------------

❖ سیلۍ له مېړه څراغ سره کار نه لري، که سختۍ مو درک کړې وپوهېږئ چې د ژوند مشالونه مو بل دي.

------------

❖ قطر کې پر لار یوټیوبر له یوه پاکستاني ځوان چې هلته د یوه امنیتي شرکت اډانه کې څوکۍ کوي پوښتي، قران کریم دې زده دی؟

وایي هو یو څه مې زده دی.

بیا یې پوښتي کومه سوره دې زده ده؟ وایي زده مې نه دی خو ټول قران سره مینه کوم. بیا ترې د یو څو ایتونو تلاوت غوښتنه کوي.

هغه ورته د سورة التکاثر یو څو ایتونه ولولي.

ترې وپوښتي ددې سورت څه نوم دی؟

پاکستانی ځوان بیا ګووټې شي وایي نه پوهېږم خو خوښ مې دی.

خبره داده چې د همدغه ځوان په څېر زموږ خلک هم دي او ترې زیات، په دین سر ورکوي خو زده کوي یې نه، دین ته د خدای د لارې پرځای د غیرت او عناني نوم ورکوي.

د قران او حدیث پر ځای راوروسته جوړ شوي نکلونه او پیښ لیکونه د دلیل په توګه راوړي، او ځینې خو سم له واره درته وایي د عرب ځکه نه منم چې ږېره یې لنډه او نظام یې سیکولر دی.

ظالمه ږېره یې خپله خطا خو له علم یې نشو منکرېدلی.

تر هغه چې موږ دین په سمه توګه نه وي زده کړی، او تش سر ترې قربانوو د کرار تمه نا ممکنه ده. شخړې،د یوه بل نه منل، یو مخیزې پرېکړې او کرکې به وي.

له سر ښندني وړاندې پر دین سر خلاصول پکار دي.

څښتن تعالی دې موږ ټولو ته سمه لار وښیي.

------------

❖ د اسلامي نړۍ د یوه مشهور عالم ابن خلدون له مجسمي سره د هغه یوه دکانې کربښه وینا لیکل شوې چې وایي«انسان په طبیعي ډول متمدن او بدلیږي» معنا په زور نه څوک ډیموکراټ کولی شي نه يې مذهبي کولی شي.

افراطي پرېکړو کې يې پلویان په ناروا ننګه او مخالفین یې په غوسه نه کابو کولو له اخلاقي زاوال سره مخ وي.

واکمنۍ د کلونو په شمېر وي، خو د افراطیت او بې عفتۍ تاریخ نسلونه نسلونه ژوندی پاتې کیږي.

خدای مو دې پرده وکاندي.

------------

❖ هر کله که د چا له چلنده زړه ماتی شوې، پر دې وپوهیږه چې خبره د هغه چلند کې نه ده ستا د خپل شخصیت کربښې او اصول دي چې فکر کوې مات شول او تاته درد رسوي. ښایي د مقابل لوري همدغه چلند ډیرو ته ښه ساعت تیري وي.

نو تل حساب له ځان سره په کار دی.

------------

❖ د دوحې د تړون پر مهال د اوسنیو واکمنو استازي وینا وال په ټینګه پرلپسې د ښځو د کار او ان د شریعت په اډانه کې تر دوکتورا د زده کړو سرته رسولو ژمنې کوي. د اوسنۍ کابینې د کانونو او پټرولیم وزیر په استازولۍ غږېدا کې وایي« ښځې به د خپلې کورنۍ د سمبالښت او د هیواد پر مختګ لپاره کار کوي، له قاعدې سبپاري تر دوکتورا به زده کړې کوي».

اسلام د ژمنو پوره کولو اړوند څه وایي:

مَــنْ كــان يُــؤمِنُ بــالله ِ واليــومِ الآخِــرِ فَلَيْــفِ اِذا وَعَــد(هغــه كســان چــې پــه الله او د اخرت پر ورځ ایمان لري باید خپلو کړو ژمنو ته ودرېږي)

د قــران کــریم پــه ســورة البقــرة، ســورة المایــده، ســورة المومنــون، ســورة التوبــه، ســورة الانبیــا او ګڼــو نــورو برخــو کــې الله تعــالی پــه څرګنــده امــر کــړی چــې پــر خپلو کړو ژمنو ودرېږئ او هوکړې او تړونونه مه ماتوئ.

د پیغمبــر علیــه الســلام لــه لــوري اصــحابو کرامــو تــه لــه غلــیم ســره د ســولې پــر تړونونــو او کــړو ژمنــو پــه وار وار ټینګــار شــوی، ان د خبــر داري پــه ژبــه وایــي «لا دیــنَ، لِمَــن لا عهــدَ لــه؛ هغــه کســان چــې پــر خپــل تــړون نــه ودریــږي مسلمانان نه دي».

پــه اوســني افغانســتان کــې د نجونــو د زده کــړو پــه برخــه کــې د علــم د فرضــیت او اړتیا له بحث ور ها خوا د ژمنو ماتېدا هم ننګونکې خبره ده.

------------

❖ نیمګړې دوعا؛

سنت لاره داده چې وایي دوعا کوئ نیمګړې یې مه کوئ.

د اروابناد سیف الرحمن سلیم پر ژبه د ډیرو د خولې دا دوعا ده،

د جومات استاد عرب دی او مکتب کې ډیلي وال دي

یو استاد راله پیدا کړئ، خو پښتون راله پیدا کړئ

خــو چــې قبولــه شــوه داســې پــرې هــک پــک یاســت چــې پښــتون مــلا نــه د عــرب مني نه د عجم نه تاته غوږ دی نه ماته.

نــو پرځــای یــې بشــپړه غوښــتنه لــه څښــتنه پکــار ده چــې وغــواړو ، یــو سیاســت وال، یواســتاد، یــو مــلا رالــه پیــدا کــړه چــې نــوره نــړۍ هــم منــي نــړۍ یــې هــم منــي، ســره ســینه ولــري خپــل او بــل دواړه د قــدر وړ وګڼــي، او د کــاذب غرور پرځای د هوښ او حکمت پر وزر الوت وکاندي.

امین

------------

❖ او انسان ډېر ناوخته وپوهېږي، ژوند هماغه وي چې مور یې ژر تېرېدو ته تلوسي وو او بیا نه راځي. د شپې سهار ته، د ورځې مازیګر، د پاچا پرځېدو، د خان زړېدو او ډیرو نورو کیسو ته...

☆☆☆☆☆☆☆☆

❖ که امام پر خپل ژوند ډاریږي ولې له وسله والو سره جومات ته ځي؟

خوندیتوب خو شرعي عذر دی کور کې دې لمونځ وکړي، نه به یې ځان خطر ته مخ کړی وي، او نه به د نورو د ترهې لامل کیږي.

د کندهار ښار یوه جومات کې پر ممبر ناست امام سره برچپک وسله وال نیغ ولاړ دی، د ټوپک شپیلۍ یې د لمونځ کونکو لور ته برابره ده.

خدای زده پر لمونځ کونکو به د سجدې حالت په څومره ویره کې تېریږي.

په لویو دولتي جوماتونو کې د نظم لپاره ممکن پر جامه او روزنه تیار پولیس اوسي خو نه دا وړ وسله وال.

ټولنیز ټیکاو، د سرکار له ټولنیزو اخلاقو سره تړلې خبره ده.

------------

❖ هغوئ مثبت فکر او هیله ساتل درواغجنه نړۍ ګڼي چې پخپله له کاذبې نهیلۍ سره مخ وي.

دا د بیل ګیټس وینا ده خو تر ده لا وړاندې زموږ د باور یوه لویه برخه همدا ده چې ژوند له ښو هیلو سره وکړو، ځکه زموږ څښتن لورانده او مهربانه رب دی.

------------

❖ بریـا تــه د رســېدو لار  د انســان لــه ســترګیا معلــومېږي کــه ځــان مــو دمــه احساس کړ، وپوهېږه چې لار اوږده ده.

------------

❖ د حکــومتي چــارواکو د خــوښ ســاتلو لپــاره لــه ډېــرې مــودې دود دی چــې یــوه ډلــه خلــک د نــاروا قســمونو لپــاره ولاړ وي. کــه حــاکم هــر څــومره تېروتنــې وکــړي دا ارزال ورتــه وایــي زرکلــن شــې، حفظــه الله،رهبــر بــې بدیله دی..

هوښـیار واکمـن کـه هـر څـو دغـه زهرجنـې کـړی لـه ځانـه ایسـته کـړي بیـا هـم انســـان د ځـــان غوښـــتنې نـــاوړه ځانګړنـــه لـــري دوئ بیـــا پـــر یـــوه بلـــه لار ورنږدې کېږي.

تېـرو کلونـو کـه دغـه ارزال پـر فسـبوک فعـال وو، خـو تـازه دمـې یـې پـر ټـویټر هره کوڅه کې لکه پر څوکی سپي درپسې غاپي.

کـــه دې ولیکـــل د هـــوایي ډګـــر پېښـــه خواشـــونکې ده، دوئ خولـــه پرانیـــزي چـــې بابا منفي تبلیغ مه کوئ، هیڅ نه دي پېښ.

پــه تېــر کــې د یــوه چــارواکي نــږدې غیــر مسـول واجـب الاحتـرم سـړي  د یـوې مرګـــونې چـــاودنې پـــر مهـــال خبریـــالانو تـــه ویلـــي و، د دې پیښـــې د خبـــر اړتیـــا څه ده وطن څله نا امنه کوئ.

دریغـــه کـــه یـــو عـــادل واکمـــن د خپلـــو نـــاروا ســـتایونکو یـــوه ډلـــه دجعـــل او ټــولنیزې نابــاورۍ پــه ګنــاه ســزا واره کــړي او ځــان د ټــویټر والــو پــر ځــای پــر خدای وسپاري، د ولي درجې ته به نږدې وي.

------------

❖ په پرېکړو کې احساسات؛

مـــوږ چـــې کلـــه غوســـه شـــوو لـــه یـــوه چـــا ســـره د ورانـــي او واټـــن  نیولـــو پرېکـــړه کـــوو، او چـــې لـــه یـــوه درکـــه یـــوه ګـــړی خوښـــي ووینـــو ورســـره د زړه پیونـــدولو پرېکړه کوو.

دواړه د احساساتو حالات دي، هيڅ فکر پرې نه دی شوی، او حتمي ده چې دغه پرېکړې ډېرې اوږد مهالې نه وي.

نو ځکه خو یو عالم وايي پر یوه او یا لږو پېښو له چا سره د عشق او کرکې پرېکړې مه کوئ، د یوې ورځ بدی تر شا لاملونه وپلټئ او ویې بخښئ او د یوه ساعت خوښی کیسه د منني په ویلو وساتئ.

------------

❖ انسان ډېر کله پر احساساتو کابو نه لري. هغه هوښيار يې که يوه موده د مسکا سيوري کې پټ وساتي يو وخت يې د عقدې په جامو کې څرګندوي.

------------

❖ د ژوند ټوله کيسه د پرهېزګارو له خولې نه وي، خطا کار هم واورئ بيا به د قضاوت چاره اسانه وي.

که د اورېدو هنر نه لرو، د ښو پرېکړو تمه هم بايد ونلرو.

------------

❖ که له ماتې وروسته بل فرصت او موکې ته ځان کې له بدلون راوستلو پرته په تمه يو، معنا دا چې د یوې بلې ناکامی شېبې شمېرو.

------------

❖ وايي د حسود او تنګ نظري انسان درناوی له دې امله وکړئ چې له زړه يې منلې تاسو ترې مخکښ ياست، نو د تنګ نظرو درناوي ته چې دليل شته د نورو خلکو درناوی خو بې دليله په کار دی.

------------

❖ د ژوند تجربه دا ده که مزل کوئ لار ورکېده پکې وي، که تل لیکل کوئ تېروتنې ورسره ملې دي، که د نورو خوشالي غواړئ د خپل زړه درد ورسره تړلی دی.

لنډه یې دا، هغوئ چې کار کوي تېروتنې کوي هغه چې تیروتنې یې نه وینو د کار او زیار څرک یې هم نشته.

------------

❖ هیڅکله نه وایم « له ویرونکو شېبو سره مخ شوم» ښه ده چې ووایم« دغو شېبو کې زه وډارېدم.» مسولیت منل، ځان پېژندل دي، هغوی چې ځان وپېژانده خپله لاره موندلی شي.

------------

❖ د افغانستان د ۷ ورځو پاچا امیر نصرالله خان د خپل ورور امیر حبیب الله خان له وژل کېدو وروسته د جلال اباد په سراج العمارت کې د هغه له خاورو ته سپارلو سره مخالفت وکړ، او ویې ویل ودانۍ پر هدیرو نه اړوو، او دا یې هم دلیل کړ «که هیواد سبا د کوم بهرني یرغلګر لاس ته لویږي د پاچا مړی به مو په سپکاوي له دې ځای لیږدوي.»

تولو ومنله او شهزاده عنایت الله خان له سرک پورې د کلف لوبغالی چې پلار یې په ۳۰ زرو کابلیو روپو پېرلی و د قبر لپاره غوره کړ چې اوس مهال په امیر شهید بڼ یاد دی.

دا وطن د چا ازار وهلی چې پیړۍ پیړۍ کېږي د بهرنیو تاړاکونو له ګواښ سره مخ دی ان د پاچا د دفن لپاره د ځای په غوراوي کې هم د اوږده مهال هیله نه لرو.

تاریخ

------------

❖ مونږه د لارورکو نه د لار پوښتنه مه کوه

لوټ بهیر ته ګوره د سالار پوښتنه مه کوه

څوک بریتو زندۍ کړل څوک دړیرو مراندو وتړل

دې بدبختو خلکو کې د دار پوښتنه مه کوه

بس په یوه څوکه، یې ایمان او وجدان غوټه کړه

کوم ځای ته رسیږي ددې تار پوښتنه مه کوه

هر یو خپله لار لري د خپل شیطان درشلې ته

خوله درته ګنډي د خدای د لار پوښتنه مه کوه

نه چې ستا د ګټو د موندلو دوعا سپکه شي

خیال پیره زمونږه د ازار پوښتنه مه کوه!

موټې غنم واخله دوزخي لوږه دې غلې کړه

پورته د انبار د سر ښامار پوښتنه مه کوه

انبار

------------

- دیوبند-سیاست او مذهب

د افغانستان د خپلواکۍ له اعلان سره ۱۹۱۹ کې د پاچا امان الله خان له ړاډګیرنې سره د جمعیت علما هند بنسټ رامنځ ته شو.

دې بنسټ کې د دیوبند هغه عالمان ځای وو چې کلونه یې د هند پر نیمه وچه د اسلام او مسلمانانو لپاره کار کاوه، او د شاه ولي الله دهلوي د لارې پیرو وو.

دوئ ۱۹۳۰ تر ۱۹۴۰ پورې د برېټانیا د هغه پلان خلاف سخته مبارزه وکړه چې د محمد علي جناح په مشرۍ د مسلمانانو لپاره یې د یوې ځانګړې جغرافیې پلان درلود او وروسته د پاکستان په نوم دغه جغرافیه بیله شوه.

د دیوبند د علماو د مخالفت دلیل دا و چې دې کار سره د اسلامي دعوت د پراخېدو او د اسلامي غورځنګونو د پراخ غوړېدو لاره محدودېږي، له همدې امله ګڼو دیني علماو پاکستان ته له کډې کولو ډډه وکړه.

پاکستان کې په مذهبي ډول بریلوي عقیدې مرکزي ونډه درلوده، ددې لپاره چې هند کې د اسلامي غورځنګونو داعیه وځپل شي، پوځي جنرال

ضیاالحق پاکستان کې یو شمیر دیوبندي علماو ته د ګڼو مدرسو د جوړولو امتیاز ورکړ په هغه سوګند چې دغه جغرافیې ته به وفادار پاتې کیږي.

دیوبندي غورځنګ چې څه دپاسه ۳۰۰ کاله یې پر هڅو اوړي، د جنرال ضیاالحق بڼه یې پر افغانستان د شوروي له یرغل سره افغانانو کې ډیره دود شوه په ځانګړې ډول سویلي ولایتونو کې ، په داسې حال کې چې د جمعیت علمای هند اغیز لا پخوا افغانستان کې پراخ و.

نور بیا

❖ دیوبند-سیاست او مذهب

دویمه برخه

دیوبند د پلازمېنې ډیلي په شمال کې له هغه لوی پاڅون لس کال وروسته رامنځ ته شو چې مسلمانانو پکې سخت زیان لیدلی و. په ۱۸۵۷ زېږدیز کال کې د میروټ په نامه د مسلمانانو او هندوانو ګډ دغه پاڅون د برېټانویانو او هندي لښکرو له لوري په سختۍ وځپل شو. له پاڅونوالو ډیر یې ووژل شو او ځینې مسلماني کورنۍ له ډاره حجاز یا اوسني سعودي ته وکوچېدې، مالونه یې لیلام او کورونه یې تالا شول.

دیوبندۍ لار د همدغو ځپل شویو مسلمانانو له بدو وروځو په الهام رامنځ شوې بلل کیږي.

دیوبند له هماغه پیله چې د هند اترپردیش ایالت په یوه واړه دیوبند نومي بازارګوټي کې له یوې مدرسې پر فکري لارې بندل شو، بنسټګران یې محمدقاسم نانوتوي او رشید احمد کنکوهي پر دې ګروهه وو، چې د هند پر لویه وچه د اسلام د یوه پیاوړي مرکز او راټولیدو یو ځای وساتي.

دیوبندیانو په هند کې د سیداحمد خان هندي په مشرۍ له هغو مسلمانانو سره سختې ډغرې هم ووهلې چې ویل یې د برېټانیا تر نیواک لاندې هند دارالسلام دی، نه دارالحرب، مسلمانان باید ورسره د ګزارې او ارامۍ ژوند وکړي. سید احمدخان ویل د انګریزانو خلاف د جهاد پلمه ځکه نشته چې هغوئ پر مسلمانانو کوم جبر او زور نه کوي او نه یې دین ته خطر دی.

د پاکستان له جغرافيې رامنځ کېدو وروسته د ديوبند سياسي لارې پر يوه او بل نوم وځپل شوې تر هغه چې د وخت د برېټانوي سياست په خوښه د دغه فکري مکتب پاکستانه بنه غښتلې او د جمعيت علما اسلام له بنسټ اېښودنې سره د مولانا شبير احمد عثماني په څير غښتلي کسان له جمعيت علمايي هند جلا شول. خو په هند کې د مولانا ابو الکلام ازاد په څير فکري خلک وو چې ډېر پام يې پر دعوت او فکر خپرولو وساته.

دا فکري ډله ځانونه د اهل سنت والجماعت پيروان بولي، د حنفي مذهب مدافعين او د ژوند چارو کې حنفي فقه يو معتبر سند په توګه پالي.

په لومړيو کې يې تربګنۍ له ځېنو بريلوي ډلو، شيعه ګانو او صوفيانو، سره وې خو ورته وخت کې يې تصوف ته هم پراخ ارزښت ورکاوه، او د چشتيه، قادريه و سهرورديه لارې پاللې.

په وروستيو کې چې د اهل حديثو او په ځانګړې ډول د محمد بن عبدالوهاب النجدي پلويان سويلي اسيا کې په خوځښت شول له ديوبنديانو بريلوي تربګنې پاتې او له اهل حديثو يا د هغوئ پر اصطلاح له وهابيانو سره پر شخړو کېوتل. په لومړيو کې بريلويانو او ځېنو صوفيانو ديوبندۍ لاره وهابيزم باله خو وروسته دغه خبرې سمی نه خوړ.

بل وار به د ديوبند پاکستانی بڼه کې د افغانانو ونډه او سياست کې يې پر اغيز وليکو، ان شاالله.

تر بيا.

------------

❖ ښکارېږي چې همدوی د دې دنيا سوچه اولاد دی

د خاورې او د ټولو پښتنو رنګونه يو دي

اباسين يوسفزی

------------

❖ ترهګري ايډيالوژي نه ده بلکې تاکتيک دی، هغه تاکتيک چې لويديځه نړۍ کې خورا پخوانۍ رېښې لري.

پــر افغانســتان د امریکــا پــوځی تېــری د هغــو مخکنیــو چپــاونو او نیــواک درس هېــرول و چــې فرانســې پــه الجزایــر او برېټــانیې پــه کینیــا کــې درلــوده، د افغــان انګریز جګړې او د شوروي ماتې د زده کړې نور تاریخي څپرکي دي.

لوېدیځو پوځونو کله هم سړي جنګ یا ګوریلایي جګړه نه ده ګټلې.

تاسو چې د بل هیواد کې لـه ځـایي خلکـو سـره جګـړه کـوئ پـه یـاد ولـرئ چـې ستاسـو لښـکر بـه کـور تـه د سـتنېدو تلوسـې وي، او کـه سـتړی شـي حتمـي بـه سـتنېږي، هغـوئ چـې خپـل هیـواد کـې جګـړه کـوي هـم هلتـه پـایي هماغـه یـې د دمــې او هیلــې ځــای دی، نــو د ورغلــو پوځونــو بریــا او اوږدمهالــه نیــواک ناشونی دی.

کــه لــه تاریخــه زده کــړه کېــده نــو د پــوځي یرغلونــو پــر ځــای بایــد د بلــې لارې فکـر وشـي چـې پـر یـو چـا خپلـه بابـایي او اغېـز ومنـل شـي. دا نــاارامي ده، کــه امریکا افغانستان ته تللې وه او یا روسان د چا ځمکه نیسي.*

لــه افغانســتانه د امریکــایي پوځیــانود وتلــو پــر کلیــزه د لنــدن میشــتې لیکــوال ګوین دایر د لیکنې لنډیز.

❖ لبنــان کــې د نغــدو پیســو کمــی د کــړکېچ تــر بریــده دی. د بــانکونو مخــې ته خلک په اوږدو اوږدو کتارونو کې ولاړ دي.

بانکونه لږه اندازه پیسې خلکو ته ورکوي.

بســام الشــیخ حســین پــه یــوه بانــک کــې لــه دوه ســوه زرو ډالــرو ډېــرې پیســې لــري، پــلار یــې ناروغــه دی او درملنــې تــه پنځــه زره ډالــره اړتیــا وه، بســام ســاعتونه ســاعتونه پــه کتــار کــې تېــر کــړل خــو هــومره پیســې یــې ترلاســه نــه کړې.

اخـر یـې لـه کـوره ټوپـک راوړ د بانـک دننـه یـې ځـان ورسـوه، او پـه لـوړ غـږ یـې خپلـه غوښـتنه تکـرار چـې پـلار مـې نـاروغ دی کـه مـې لـه پیسـو پنځـه زره ډالــر دا اوس رانکــړئ شــر جــوړوم، دا یــې هــم وویــل چــې کــه پیســې راکــړئ ځــان بــه د وســلې راوړلــو لــه کبلــه پولیســو تــه هــم وســپارم. بــانکوالو خبــره ومنلــه، پیســې یــې ورکــړې هغــه پــه یــو لاس واخســتې او نــږدې کتــار کــې ولاړ ورور ته یې ژر په بل لاس ورکړې او ځان یې پولیسو ته وسپاره.

د الغد تلویزون له پاڼې په مننه.

------------

❖ د هنر زور؛

د عرب نړۍ تر ټولو لويه جنازه چې دوه نيم ميليونو کسانو په کې ګډون کړی وو د عبدالحليم حافظ هغه وه. يوازې جنازه کې د ګډون خبره سرټکي نه وو، ځلورو مېرمنو چې د هغه د غږ مينه والې وې د خپلو کورونو له بانګوټې يې ښکته ځانونه وغورځول او ددغه مصري سندرغاړي د مرګ په اواز اورېدو بې له ژوند سره مخه ښه وکړه.

عبدالحليم علي شبانة د ډېرو مصريانو لپاره اتل و، خو يوې مرګونۍ ناروغۍ يې غږ او وجود وځپه ډېره موده د ناروغۍ پر بستر ورنځېده. د۱۹۷۷ کال د مارچ پر ۳۰ د لندن يوه روغتون کې له ژوند او سندرو پرېوت او په ۴۷ کلنۍ کې چې د زوکړې نېټې ته يې څو ساعتونه پاتې وو روح يې څښتن ته وسپاره.

وروستۍ سندره يې د نزار قباني د قاريه الفنجان په نوم يو شهکار شعر و چې د عبدالحليم حافظ له غږ سره دادی نيمه پېړۍ کېږي لا هم ازانګې کوي، او د ډېرو مصريانو لپاره د سهار موسيقي او ترانه ده.

هنر تر سياستونو او مادي شتمنيو ډېر زورور او د ډېر عمر لرونکی دی.

------------

❖ د کورنيو چارو چار سمبالي وزير په يوه کمساري ګام سره هغې پوليسې ته اعزازي رتبه ورکړې چې دوه اونۍ وړاندې کابل کې د ډله ايزو بريدګرو سره مقابله کې ووژل شوه. وزير په يوه مکتوب کې دا هم ويلې چې د پوليسې کورنۍ ته به د هغې معاش د اوږده مهال لپاره ورکول کيږي.

کمساری ګام ځکه دی چې ددې واکمنې ډلې مشرانو هيڅ يوه وينا کې له خپلو هغو ميرمنو او يا کوربنو مننه ونه کړه چې دوئ ته يې کليو او باندو کې سختو ورځو پر مهال خواږه برابر کړي، په جګړو کې يې جامې ورمينځلې او ان ځېنو پيښو کې خو يې وسله والو فعاليتونو کې هم د رپوټونو له مخې ونډه درلوده.

د دوئ پر ونډه چوپتيا يو له هغو کولتوري مسلو ده چې د ښځو په نوم يادولو ورته ځان کم ښکاري، او له قران او پيغمبري روايتونو خپل کليوال رواجونه ورته مهم ښکاري.

داسي حال کې چې نوري ميرمنې تري هيواد کې کار ډوډۍ او ازادۍ غواړي.

د خلکو وينا ده که شريعت غواړئ له دينه دې نور رواجي او کليوالي روايتونه ليرې شي او په دې توګه دې له هغه شرمه خلاصي ومونډل شي چې کال کېږي د خپلو لونو ښونځي يې تړلي او دين يې رواج ته اړولی.

------------

- د امريکايي اکمالاتو يو قراردي چې اوس يې لويه پګړۍ تړلې او ځان ورته سرغازي ښکاري د چاپيرياڵ ساتني ملي اداري يوه مامور ته يې چې کليوال يې دی پېغور ډولي ويلي و-لوړ لوړ مه غږېږه تا هم مرتد رژيم کې کار کړی. هغه ورته ځواب ورکړی و چې زه خو د چاپيرياڵ ساتني يو عادي مامور وم او تا خو له امريکايي پوځيانو سره قراردادونه او پروژې درلودې مورچې دې ورته سمنتي کولې نو اوس انصاف وکړه مرتد ته شوې که زه؟ سړي له وارخطايۍ پګړۍ ټينګه کړې وه او ويلې مور خو يې اقتصاد ته تاوان رسولو ځکه مې له پې ار ټي پروژې اخستلې هغې ته روايت و، علما وپوښته.

دلته لندن کې د يوه چا په اړه يو ځوان غږېده چې دا مې ډير بد ايسي د مسلمانانو خلاف دی، دې ظالم هلمند ته پوځيانو لېږلو ماموريت کې کار کاوه. ما ويل سړيه چا پسې دروغ تړلي، دی خو دوکانداري لري. ويل يې نه زه ثبوت لرم.

د څه ثبوت؟

وايي ما خپله ترجماني دندې ته نوم ليکلی و ده خنځير کسان غوره کول او زه يې انتخاب نه کړم.

ماول ښه نو که ته يې انتخاب کړی وای دا دله به نو بيا ډير ښه سړی او ښه مسلمان و.

خبــره داده چــې مــوږ ډېــر لنــډپاري او احساســاتي مخلــوق يــو، قضـــاوت د ځـــان په خوښه او د ځان په ګټه کوو.

الله مو دې مل شي.

------------

- ❖ د واکمنيــو بــدلون انســاني ټولنــه کــې حتمـــي دی، يـــوازې د څښـــتن تعـــالی پاچاهي بې له شک او تل ولاړه ده.

فرعـــون لـــه خپـــل تـــول غـــرور او اوږدې واکمنـــۍ وروســـته پـــه نيـــل کـــې د خپلـــې مـــاتې او کمـــزورۍ چيغـــه وکړه،احمدشـــاه بابـــا چـــې د ډهلـــي پـــر تخـــت واکمـــن و، ورځ راغلـــه چـــې ننګيـــالي بچـــي يـــې د نـــاروغۍ درملنـــې لپـــاره تـــورخم او ســـپين بولدک کې په زاريو،زاريو پښتونخوا ته د اوښتو خواري کوي.

د شـــام، مصـــر،عراق او تـــرک ســـلطنتونه چـــې پـــه وينـــو ګټـــل شـــوي وو، نښـــې يـــې هـــم پـــاتې نـــه دي، روس انګريـــز، امريکـــا، چـــين او جاپـــان پـــه ځلونـــو ځلونـــو يو بل مات کړي او شړلي.

نـــو! ښـــه هغـــه او توريـــالی هغـــه چـــې د خپلـــې ټـــولنې وګـــړو تـــه د پـــوهې او زده کـــړو داســـې مشـــالونه بـــل کـــړي چـــې کـــه هرڅـــوک واکمـــن وي ، دوئ پکـــې خوار نشي او دخيټې په غلامۍ د فکر نړۍ ونه پلوري.

------------

- ❖ چـــې نـــه دې وطـــن کـــې د مکـــې او مـــدينې ســـپيڅلي ښـــارونه شـــته، نـــه بيـــت المقـــدس پکـــې دی او نـــه دې د خلکـــو د ديـــن پـــوهنې او دينـــدارۍ کچـــه دومـــره وي چـــې پـــه ســـلو کـــې ۸۰ دې د خپـــل لمانځـــه پـــر معنـــی وپوهيږي، نو هلته کفار بد کوي چې د مذهب په نوم ځي؟

حتمـــي ده چـــې يـــا مـــو جغرافيـــه د جګـــړو لپـــاره جـــوړه ده، يـــا مـــوږ جنـــګ مزاجـــه يو او نړۍ پوهيږي چې څنګه مو وکاروي.

زمـــوږ د وطـــن تـــاريخ هـــم پـــه ســـخته تفســـيريږي، او شـــننه يـــې هـــم ګرانـــه ده. ---
---------

- ❖ د برېتانيـــا د وســـلوالو ځواکونـــو پخـــوانی لـــوی درســـتيز جنـــرال ســـرنيک کـــارتر وايـــي د طالبـــانو مـــنځ کـــې د نـــوي فکـــر او مـــنځلارۍ خلـــک هـــم

شته وايي سراج الدين حقاني چې شل کاله زموږ غلیم و یو موډرنیست او پر دې عصر پوه سرخلاصی سړی دی.

هغه د بي بي سي 4راديو ته وويل که افغانستان هیر شي د ګواښ تمه دې وشي، چې ترهګري به پکې وپايي.

د کابل اوس مهالی والي مولوي ندا محمد ندیم خپلو ډله ګرو ته یوه وینا کې وايي، خپلې قرباني، ستړیاوې او دربدرۍ تیر شوي تکلیفونه پر خلکو مه خرڅوئ پر ولس یې احسان مه کوئ، که دې د خدای لپاره کړي وي نو معمله دې له خدای سره ده پر خلکو یې ولې پورته پورته کوې.

کبر، غرور، پایلوڅي، څنوري-برېتوري بڼې د مسلمان کار نه دی، پر لارو کاږه واږه مه ځئ.

یو دوست وايي د ډیرو مشرانو وینااوې یې سمې او د خلکو پر زړه دي، عمل کې ډیر څه نه پلي کیږي.

بل وويل توپیر دادی چې زموږ خلک خبري له قران او حدیثه کوو، عمل د خپل مزاج د خیل، قوم او کلیوالو رواجونو له مخې کوو، هغه رواجونه چې نیم یې د شرعې خلاف دي،لکه د نجونو د زده کړو بد ګڼل.

نو ملا صاحبانو!!! د خدای امر ومنئ د کلي پېغور مه منئ، د نجونو ترلي ښونځي پرانیزئ.

------------

- لــه انګریزي ښکېلاکه د افغانستان د خپلواکۍ بېرته اخستلو کې د قومندان نادرخان پوځي ځیرکتیا او د شاه امان الله خان د سیاسي پوهې او قیادت ترڅنګ د نوم ورکو افغان غازیانو قرباني د هېرې نه دي.

ایبله پېښي، پر ولږه او تنده له نړیوال ځواک سره ډغرې د یوه منظم پوځ د وس خبره نه وه خو د یوه هوډمن ولس مبارزې د فرنګي سپيني وتښتولې.

د تاريخ نامرده پاڼې او د واک نشه تل نوم ورکي سرتيري هیروي، د خدای په ياد ښه دي.

د زمـــري ۲۸ د هیـــواد د خپلـــواکۍ ورځ مـــو مبـــارک، څښـــتن مـــو دې هیـــواد لـــه ګدايۍ ،بې وزلۍ او جهالت له منګولو هم خپلواک لري.

------------

- ❖ کـــه د مقـــامونو او واکمنـــو مـــوده اوږده وای ډېـــرو انســـانانو بـــه د فرعونیـــت دعـــوه کـــولی، چـــا بـــه د دیـــن او چـــا بـــه د ملـــت پـــالنې پـــه نـــوم د ولس وينې څښلی. د واک تنده د انسان تر ټولو ناوړه حوس دی.

خـــالق تعـــالی ســـتر عـــادل او قـــادر رب دی ځکـــه خـــو د چـــا پاچـــاهۍ او چـــارواکۍ پر یوه حالت نه پرېږدي.

نـــادان مخلـــوق واک تـــه رســـېده خپـــل کمـــال او فتحـــه ګڼـــي او ناکـــامي د الله تعـــالی امتحـــان بـــولي، پـــه اصـــل کـــې واک تـــه د انســـان رســـېده تـــر ټولـــو لـــوی ازمايښـــت دی.

کـــه مـــوږ د شـــرعي نظـــام خبـــره کـــوو، لـــومړی دا مهمـــه ده چـــې د دغـــه نظـــام چلونکي څه ډول انسانان دي؟

لـــه مشـــرتابه تـــر عســـکره بايـــد دداســـې نظـــام خلـــک محمدي ښايســـته اخـــلاق ولـــري. اخـــلاق پګـــړی تـــړل او څنـــې لويـــول نـــه دي، اخـــلاق د ژبـــې لاســـو او پښـــو چلنـــد دی.

لـــه بدغـــه مرغـــه پـــه دې وروســـتيو کـــې چـــې د ځېنـــو کســـانو د نيـــونې ويـــډيوګانې خپـــرې شـــوي تاســـو د وســـله والـــو کســـانو چلنـــد وګـــورئ چـــې څـــه ډول ښـــکنځل او کوڅـــه ډبـــې خبـــرې کـــوي، تاســـو پـــر ټـــويټر د نظـــام ســـپاهيان وڅـــارئ څـــومره ستغ، سپورخولي، ښکنځلمار او بې منطقه به يې وموميځ.

ښکنځل ، پر ژمنه نه ودرېده او بد خلکت د منافق کار دی.

دريغـــه کـــه دامربـــالمعروف اداره تـــر هـــر څـــه مخکـــې د خپـــل نظـــام ددغـــه ډول خلکـــو د خلـــق ســـمونې لپـــاره ټـــولګي جـــوړ کـــړي، کـــه دوئ ســـم شـــي ګټـــه يـــې عامه ده.

------------

- ❖ تمه سپی ده؛

کــه د هیلــو هــدیره کــې بــې کســه روان یاســت، او یــوازې یــوه هیلــه مــو د تمــې پــه تار پر هوا ساتلې، نو وانګیره چې کال به اوړي خو هیله به سر نشي.

کــه همدغــه ســړی یــا د خوشــال بابــا خبــره ســړیَ تــر تاســو در غځېــدلی د تمــې تــار در پرېکــړي، ســم لاســي بــه ژوبــل شــئ خــو ډېره مــه لګــوئ ، پورتــه شــئ خــالق تعــالی تــه وواياســت بخښــنه غــواړم پــر ناځوانــه مخلــوق دې بيــا زړه نــه تــړم يــوازې روغتيــا راکــړه او ګــوره چــې د خپــل ارمــان غــره تــه د کــال مــزل په یوه ورځ وکړم.

له هغوئ منندوئ اوسئ چې وختي د تمې تار در پرې کوي.

د افغانســتان ســوله پــال پاچــا ظــاهر خــان يــوه مرکــه کــې ويلــي وو، ځکــه مــې ډېــرې خبــرې او تقريرونــه نــه خوښــيږي چــې ښــايي کلــه داســې خبــره پــر ژبــه راشــي چــې يــو څــوک ژوبــل کــړي، د خلکــو خــوږول ډېــر اســان کــار دی خــو لويه بدي ده.

ريښــتيا وايــي ډېــرې بــې فکــره خبــرې خــو کلــه کلــه نــاورين کــې هــم د خلکــو لــه خــولې پــه داســې انــداز کېــږي چــې هغــوئ يــې لــه ښــه او ســپين نيتــه او يــا خواخوږي ګڼي خو نور پرې سپک او توهين شي.

------------

- ❖ د قــران کــريم پــه نــوم مســينجر تــه پيغــام راغــی، لــه ډار او حيــا مــې نشــو پرانســتلی مــا ويــل حتمــي بــه يــې ليکلــي وي چــې د خــدای لــټ بنــده ورځ کې خو مې لږ تر لږه يو وار لمس کولو سره لوله.

ســاعت وروســته مــې پيغــام پرانســت پکــې ليکــل شــوي و، فضــلی مــولا يــم کــه انګلنــډ کــې څــوک ماشــومانو تــه قــران پــړاوول غــواړي ارازنــه پــرايس کــې بــه انلاين ټيچينګ ورته کوم.

مــا ويــل خــدای خــو دې پــه دې ټيچينــګ خــوار مــه کــړه دا نــوم خــو بــه دې پــر فيسبوک خپل ليکلی وای نه د قران کريم.

------------

- ❖ د تــونس ښــار يــوه کــافۍ کــې يــو الجزايــری رانــه پوښــتي د کــوم ځــای يــی؟ ورتــه مــې وويــل افغــان! د وروســتۍ زلزلــې لــه املــه يــې خواخــوږي راسره وکړه .

مـا ویـل واه زمـوږ لــه متعصــبینو خــو پــردي هــم ښــه دي پــر ویرنــه مــو راســره خواخوږي ښیي.

وروسته يې وويل بختور ياست د طالبانو په څير شرعي نظام لرئ.

ومـــې وويـــل كـــور ودان خـــداى دې يـــوه ورځ تاســـو هـــم د ټيـــک همدغـــه ډول نظام ځښتنان کړي.

سخت رابرګ شو .

وايـــي نـــا هغـــه خلـــک ډيـــر تنـــد لاري دي، خـــورا زوږ فكـــر لـــري اوربـــدلي مـــې دي د نجونو ښونځي يې تړلي، زموږ هيواد

بايد پر مختګ وكړي نه شاتګ.

نـور مـې بحـث ورسـره ونـه كـړ چـې ايـا د طالبـانو پـه څيـر نظـام يـوازې زمـوږ د هيواد لپاره ښه نسخه ده كه نوره اسلامي نړۍ يې هم بايد عملي كړي.

لــه ســړي ســره مــې مخــه ښــه وشــوه او پــر دې وپوهيــدم چــې زمــوږ خواخــوږي لا مـوږ تـه هغـه څـه نـه غـواړي چـې بايـد ويـې لـرو نـو دوښـمن بـه راتـه كلـه ښـه ورځ وغواړي.

زما نصيبه ګنډيريه!

------------

- ❖ د اوكـــراين يـــو ســـرتيرى ګينـــاډي دخپـــل هيـــواد لـــه لـــوري دشـــوروي لښــكرو پــه ټيــل كــې پــر افغانســتان د نــاروا چپــاو پــه ټــس كــې ولېــږل شو او بيا افغان مجاهدينو ونيوه.

هغـــه ډيـــر وخـــت مجاهـــدينو ســـره ملګـــرى و، افغـــاني ســـره يـــې واده وكـــړ او ژوند يې جوړ كړ.

۳۰ كاله وروسته خپل وطن ته په ناروغ وجود ستون شو .

خوينـــدو-ورونـــو يـــې د وينـــې پـــه مينـــه ښـــكل كـــړ خـــو كليوالـــو او نـــورو خپلوانـــو تـــرې مـــخ واړوه هيچـــا د ښـــه راغلاســـت لاس ور نكـــړ لـــه دې املـــه چـــې لـــه خپـل هيـواد سـره يـې خيانـت كـړى او د مـرګ لـه ډاره لـه خپـل غلـيم سـره پـاتې شوى.

ګينادي مې ۲۰۱۷ کې د هغه کور کندوز کې وليده، ويل يې سره له دې چې پخپله پرېکړه خوښ دی خو بيا هم کله کله د اوکراين د خلکو وطني مينه ټکان راکوي او دا چې زه پکې خاين بلل کېږم.

------------

موږ په ښونځي کې د ځنګلونو د قاچاق او بې رحمه پرې کېدو اړونده تمثيلي ټوټه وړاندې کوله، د چارتراشو تر ټولو لوی قاچاقبر هر زده کونکي ته له دې امله لس زره افغانۍ انعام ورکړ چې ګواکې ښه تمثيل مو وکړ.

نن مې يو دوست ټيک هماغه ورځ راياده کړه، ټوله کورنۍ يې د سکرو لېږد کې ونډه لري چې ده ته يې هم مخامخ ګټه رسي، وايي وطن تباه شو!

خو مه يې تباه کوئ، يا لږ تر لږ که حکومت يې تبا کوي ولس دې يې مخه ونيسي.

------------

ښاغلی عبدالطيف حکيمي ليکي؛

مه انګېره چې ګواکې ټولو خلکو درته شا کړې، فکر وکړه ښايي ته کوږ ناست يې.

------------

- ❖ د انساني تمدن او پوهې پالنې لومړني مرکزونه، په عراق، مصر او د منځني ختيځ نورو سيمو کې وو. خو چې مسلمانانو له عصر سره ځان سم نه کړ يوازې جګړې يې ميلمنې شوې ان هغه ټوپک چې موږ پرې يو بل وژنو هغه هم پخپل کور نشو جوړولی.

------------

درځئ د تونس دويمه کيسه کې موالجامعة الزيتونة ته ورولم، هغه اسلامي پوهنتون چې نړدې ۱۳ پيړۍ پخوا له اکسفورډ، کمبريج ، او الازهر وړاندې جوړ شوی.

که چا ليدلی وي نو تکراری احسن دې يې وګني.

------------

❖ «دا وخـــت احساســـات د ځـــان لـــه قيـــده خـــلاص شـــول، د تکبيـــر ملکـــوتي نعـــرې شـــوې، غونـــډې داســـې تغيـــر وخـــوړ، لکـــه د نبـــي کـــريم صـــلی الله عليه و سلم په راتګ چې دنيا بدله شوه.

دغـــه عظـــيم منـــار انانيـــت نـــه درلـــود، هڅـــه يـــې کولـــه، چـــې پـــه عـــادي او غيـــر تشريفاتي ډول تالار ته را ننوزي»

دا د طالبـــانو د غورځنـــګ د يـــوه غـــړي عمـــر جـــلال صـــاحب د ليکلـــو احساســـاتو ټکي دي چې د خپل مشر د لومړي ځل ليدو په اړه يې کښلي.

ورتـــه مـــې وليکـــل ستاســـو احساســـات پـــر خپـــل ځـــای خـــو دا انصـــاف نـــه دی چـــې دغـــه شـــيبه د حضـــرت ﷴصـــلی الله عليـــه وســـلم د راتـــګ لـــه شـــيبې ســـره پرتلـــه کوئ.

ګڼـــو ملګـــرو يـــې پـــه ســـتغو ټکـــو راتـــه وليکـــل د مقايســـې او مشـــابهت تـــوپير وپيژنه.

ماتـــه ســـپورو ټکـــو لـــه املـــه هلتـــه د دغـــه تـــوپير پرځـــای اخـــلاق لومړيتـــوب ښـــکاره شـــول او ورتـــه مـــې وويـــل منظـــور مـــې لـــه الفـــاظو ســـره د احتيـــاط دی کـــه ددين د عالم په توګه درته سم ښکاري ويې ليکه.

حضـــرت ﷴصـــلی الله عليـــه وســـلم ســـره د مشـــابهت پـــه هکلـــه پخپلـــه هغـــه مبـــارک جعفـــر بـــن ابـــي طالـــب تـــه ويلـــي و، تـــه زمـــا پـــه څيـــر يـــې(خلقـــت/اخـــلاق) يـــا د حضـــر فاطمـــة الزهـــرا رضـــی الله عنهـــا پـــه هکلـــه ويـــل کېـــږي چـــې څيـــره کـــې يـــې د رســـول الله ســـره ورتـــه والـــی درلـــود، د مهـــدي پـــه هکـــل هـــم روايـــت دی چې څيره کې به د نبي عليه السلام په شکل وي.

يا دا چې يو څوک ووايي فلانی ﷴي اخلاق لري، بده خبره نه ده.

خـــو کـــه تاســـو د خپـــل سياســـي رهبـــر او واکمـــن تـــش تـــالار تـــه ننوتـــل نـــړی تـــه د حضـــرت ﷴ صـــلی الله عليـــه وســـلم راتـــګ ســـره پرتلـــه کـــوئ لويـــه نـــا انصـــافي او خرافـــاتو تـــه پـــه لـــوی لاس د خلکـــو بـــاور ور مـــاتول دي هغـــه ټولنـــه کـــې چـــې د خلکـــو د لوســـت کچـــه خـــورا ټيټـــه ده، او پـــه هـــره لاره د مـــذهب پـــه نـــوم ســـيخدی شي.

کــه یوځــوک ددیــن عــالم شــي یــا دودیــز مــلا دا معنــا نــه لــري چــې هــر څــه ورتــه رواه دي.

افغانان علماوو ته ځانګړی درناوی لري خو د درناوي حد مالوم دی.

مــوږ پــه جومــات کــې ورو خبــرې لا نــه کــوو وایــو پــوس پــوس مــه کــوه د الله کور دی، خو ځیني د الله تعالی کور کې په جرات له وسلو سره اتڼ کوي.

لــه الله تعــالی ویــره پکــار ده او هغــه دینــي باورونــه او درنــاوی بایــد وســاتل شــي چې زموږ ټولنه یې لري.

------------

- ❖ د نــړی تــر ټولــو پخــوانی بیــرغ د ډنمــارک بلــل کیــږي چــې د ګینــس پــه کتاب کې هم ثبت دی.

د هــر هیــواد بیــرغ کــې ځــانګړې نښــې او رنګونــه خپــل خپــل تعبیرونــه او تفســیرونه لــري، لکــه د امریکــا بیــرغ کــې پنځــوس ســتوري د هغــه هیــواد د جغرافیــې پنځوســو ایــالاتونو پــه معنــا بلــل کیــږي، اســلامي نــړۍ کــې د پنځــه کونجیز ستوري کارول د اسلام د پنځه بیناوو په معنی ده.

دا هــم زمــا د تــونس دریمــه کیســه؛ د هغــه هیــواد بیــرغ چــې لــه یــوې نیمــې پیــړۍ یــې عمــر اوړي ان د فرانســوي نیــواک پــر مهــال هــم لــه رپیــدو مــړاوی نشــو، سپکاوی یې سخته سزا لري، او درناوی یې د ټولو ویاړ دی.

------------

- ❖ مــذهبي زغــم؛ د نــړۍ هــره هغــه ټولنــه باثباتــه او امــن ده چــې مــذهبي زغــم پــه کــې وي. اســلام د زغــم لپــاره تــر ټولــو پراخــه لمــن لــري او د هــر چــا د مــال او ســر خونــدیتوب ضــمانت پکــې شــته البتــه پــه اســلام کــې نــه پــه ځېنــو مســلمانانو کــې. زمــوږ ټولنــه لــه دومــره تربګنیــو جــوړه ده چــې د حنفــي مــذهب پیــروان د امــام شــافعي لــه لار روانــو ســره یــو ځــای لمــونځ نــه کــوي، حنفیــانو کــې نــورې وړې وړې ډلګــۍ چــې د مدرســو او طریقــو نومونــه یــې پــه ځــان ایښــي ممبــر یــې د یــوه بــل رټلــو او ســپکولو ته ځانګړی کړی.

زمــا د تــونس کیســو کــې مــو نــن حلــق الــوادي تــه بیــایم هلتــه چــې یهــودان مسلمانانو ته روژه ماتي تیاروي.

تونس ته اسلام ومه زېږدېزه پېړۍ کې ورغلی، او سلو کې ۹۹ وګړي يې مسلمانان دي رسمي دين يې اسلام خو د لږکيو کې لږ شمير يې نا مسلمانه وګړي هم شته.

مذهبي زغم يې خلک پر يوه دسترخوان کېنولي او ژوند کوي.

------------

د مولانا صاحب بسمل پر پاڼه د استاد مصطفی محمود له نکله ليکل شوي:

کله چې کافر او مسلمان پر سيند لاهو شي الله جل جلا له به هغه څوک ژغوري چې لامبو وهل يې زده وي.

جاهل مسلمان به ډوبيږي، او کافر آب باز به ژغورل کيږي

ځکه چې د الله جل جلاله هغه څوک نه خوښيږي چې جاهلان او بې کماله دي.

------------

ښه ژبه او ښه توب دا نه دی چې د هر دور واکمن ته جناب/عليقدر وويل شي.

انسانيت دادی چې په يوه دور کې دې هم ښکنځل ونشي او داسې سپکاوی چې سباپرې ټيټ ګوري او د هماغه رټل شوي مخ ته ولاړ يو.

------------

افريقايي الاصله امريکايي ليکوال ايدوو کوينيکان وايي که غواړئ ستاسو د هيواد پر راتلونکي وغړېږم د خپلو اتلانو نومونه راته واخلئ هغه چې ستاسو ځوانان پرې زړه تړي.

نو فکر وکړئ زموږ د دا تېرو څو لسيزو د اتلوليو معيار څه و، نو خپل حال د هماغه لنډ تېر زېږنده وګڼئ.

که اتل مو د جګړې له ډګره غوره کړی وي، حتمي ده چې د جګړې له کيسو سره به ژوند کوئ.

------------

محمد اسلم شینواری چې ځان یې قومي لیډر باله؛ خلقیانو پارچمیانو د افغانستان ملي بیرغ له ارګه کوز کړ، پردۍ شوروۍ جنډه یې پر هېواد رپانده کړه، تک سور بیرغ ټیک لکه د وطن د حالت وینلړلی رنګ، ملي پوځ یې د ګوند په نوم کړ(خلقي اردو).

وروسته مجاهدینو د هیواد ملي بیرغ تنظیمي کړ، او په راولپینډۍ کې یې په تور،سپین او شین درزي پر همدغو رنګونو وګنډه او پر کابل یې پورته کړ.

زموږ په منګ نسل چې کډوالۍ کې مو ماشومتوب تېر کړی و، نه د هیواد د ملي بیرغ له رنګ خبر و، نه د پوځ له جامو.

محمد اسلم شینواری چې د راډیو تخنیکي انجنیر و، تل به یې له ځانه ملي درې رنګه بیرغ تاو کړی و او کله به یې د افغانستان د ملي پوځ پخوانۍ جامې او بیلابیلې رتبې هم پر سینه ځړولې وې، د مجاهدینو او بیا د طالبانو لومړنۍ واکمنۍ مهال و، زموږ د ښوونځي د رخصتۍ پر وخت به په یوه هسکه ولاړ و او پر واړه لوډسپیکر به یې د وطن خبرې کولې.

خلکو به لیونی باله، ویناوو پسې به یې خندېده خو موږ ترې د هیواد ملي رنګونه او هویت زده کړ، د احسان پوروړي یې یو.

وایي نن یې روح ځښتن تعالی ته وسپاره( خدای دې د ټېي افغانستان د مظلوم او معصوم بچي په توګه د رحم او لورینو ډالۍ ور نصیب کړي.

امین یا رب

------------

زبیر صالح د عقل نکل کا؛

عقل یوه ورځ له یو انګرېز سره پر لاره ملګری شو ځان یې ور پېژندو او تولې خپلې ځانګړنې او ښېګڼې یې ورته واورولې انګرېز یې لاس ښکل کړ او ورته ویې ویل ښه ته چې دومره له ښېګڼو ډک ملګری یې بیا نو ته باید تر ما وړاندې روان شې ځکه که پر لاره کوم ګواښ پېښېږي نو وار له مخه به مې خبروې.

عقل یې وړاندیز ومانه اوس چې کومه خبره او یا هم خطر پېښېږي انګرېز یې وار له مخه چمتووالی کړی وي. بله ورځ له یوه پنجابي سره

ملګـــری شـــو هغـــه تـــه یـــې وویـــل،جې زه عقـــل نـــومېږم او د نـــړۍ د هـــرې ستونزې پـه چـل پـوهېږم پنجـابي چـې دا خبـره واورېـده ورتـه یـې پښـې ښـکل کـړې ویـل یـې تـه چېـرې وې صـاحبه تـه بایـد لـه مـا سره ځنـګ پـه ځنـګ لاړ شـې هیلـه ده مـا یـوازې مـه پرېـږدئ زه ډېـر ډارېـږم ځکـه ډېـر دوښـمنان او ستونزې لـرم لـه وژلـو او ځورولـو مـې وسـاته او لـه سـتونزو نـه د خلاصـون لارې را وښایاست.

عقـل یـې خبـره هـم ومنلـه او اوس چـې هـر ځـل لـه سـتونزو سـره مـخ شـي نـو یې له ستونزو خلاص کړي.

بلـه ورځ عقـل ځانتـه پـه سـفر روان و لـه لیـرې یـو شـمله ور ښـکاره شـو چـې ګردنـــۍ یـــې تړلـــې وه او لـــه تېوپـــک ســـره مغـــرور روان دی عقـــل منـــډه ور واخیسـته او پـه وېـره یـې ورتـه وویـل خـان صـېب زه هـم سـفر لـرم کـه دې خوښـه وي نـو یـو ځـای بـه دا لاره رالنـډه کـړو او یـوه خولـه ګپـه بـه سـره ولګوو.

خـان وویـل زه دوښـمنداره یـم لـه مـا سـره تـګ خطـر لـري بیـا نـور سـتا خوښـه، ځـو ګامـه چـې لاړل عقـل وویـل خـان صـېب زه عقـل یـم هـر څـوک راتـه اړتیـا لـري زه د هـر ډول سـتونزو او کړاونـو د خلاصـون لاره لـرم ،انګرېـز د ځـان امـام کـړم پنجـابي پـه ځنـګ کـې ونېـوم کـه دې اړتیـا وي نـو سـتا هـم مرسته کوم.

خـان صـاحب د تېوپـک لـت کـش کـړ پـه غوسـه یـې ورتـه وویـل چـوپ شـه چـې عقـل یـې ځـان تـه بـه یـې زه تـر تـا ډېـر پـوهېږم مـا تـر اوسـه پـلار تـه اجـازه نـه ده ورکـړې چـې تـر مـا مخکـې لاړ شـي تـر اوسـه پـورې مـې ورور او ښـځه زمـا پـه ځنـګ کـې د تـګ جـرأت نشـي کـولای. تاتـه مـې چـې وخـت درکـړ د دې لپاره و چې ګواکې ډارېږې.

تـه نـور لـه مـا راسـره یـو ځـای نشـې تللـی پـه مـا پسـې وروسـته وروسـته راځـه دومره وروسته چې د پښو کش او کړپ دې هم وا نه ورم.

عقـل غریـب لـه ډاره لکـه پاڼـه رپېـده لـومړی وار یـې و چـې دومـره غوسـه او ځـان تـه د تېوپـک شـپیلۍ یـې مخـامخ ولېـده مجبـور شـو د غیرتـي ... خبـره یـې ومنله او په هغه پسې ډېر شاته شاته په ماتو ماتو ګامونو روان شو.

اوس چې علیقدر خان صاحب حفظه الله پر هره کنده او ستونزو کې وغورځېږي نو کلونه وروسته عقل ور ورسېږي او خان صېب بیا ورته ووایي کاش پر دې لاره نه وای راغلی. دلته خطر و بیا په ټیټو سترګو ووایي

(کاش وروستیه عقله چې ته ړومبی وای)

------------

❖ اروا پوهان وایي هغوئ چې ویناوې په لوړ غږ اوروي، چیغې وهي تل خپل مخالفین مخاطبوي او ځان په حقه ګڼي په اصل کې د یوه تمثیل هڅه، او کاذبه شخصیت جوړونه کوي.

وروستی افغان پاچا تل ارام غږېده، هیچا ته یې د مخالف خطاب نه کاوه، او هغه سړی چې د ده پاچاهي یې ړنګه کړه ویل یې احساساتي و خو وطندوست هم.

زغم او انسانیت ته یې سلام!

------------

❖ دا مه ګڼئ چې یوازې بهرنۍ لاس وهنې د جګړو او شخړو لاملونه وي، شرعي مسله ده کومه ټولنه کې چې مهرباني او عدالت نه وي شخړې او اورپکۍ پکې پیښېږي.

------------

❖ د علماو او مشایخو د ترور او کړونې پېښې بدې دي خو د حکمت دا خبره هم له یاده مه باسئ چې دې پېښو د کابل څه چې د پېښور دیني عالمان هم اړ کړي د انسان د ژوند پر ارزښت وغږېږي او هغه قراني احکام او نبوي حدیثونه واوروي چې پکې د انسان وژنې او بې رحمۍ غندنه شوې.

دا یو مثبت بدلون دی چې زموږ د ټولنې مذهبي خېرې د ژوند ارزښت ته قایل شي.

ان شاالله یوه ورځ راتلونکې ده چې همدا علما به د هغو چارواکو زېل او ناخبري هم ننګوي چې د نجونو د تړلو ښونځیو له تاوانه بې خبره دي.

الله تعالی دې د حق ویونکو او مواحدو علماو ساتندوی شي.

دنجونو_ښونځي_پرانیزئ

------------

- ❖ د مشـــرانو جرګــې د قـــدر وړ مشـــر پـــه درنـــاوي او امنیـــت لپـــاره د جـــلال ابـــاد ښـــار ځـــو کـــوڅې او عامـــه لارې پـــر ســـمنټي دیوالونـــو بنـــدې وې، دغلتـــه یـــوه میشـــت عـــادي ښـــاري بـــه نـــیم ســـاعت پـــر بلـــه لار مـــزل کـــاوه چـــې خپـــل کـــور تـــه ورســـیږي، خـــو مـــا هیڅکلـــه دا اټکـــل نـــه و کـــړی چـــې لشـــکر ګـــاه کـــې دې یـــوه لویـــه عامـــه کوڅـــه د یـــوه عـــادي ولســـوال لپـــاره دیوال او بنده شوې وي.

بلـــخ کـــې مـــې یـــوه خبـــري کنفـــرانس تـــه پوښـــښ ورکـــاوه، ویـــل یـــې سیاســـي دفتـــر کـــې بـــه والـــي صـــاحب وینـــا ولـــري، مـــا د عربـــو د شـــاهي قصـــرونو کیســـې اورېـــدلې وې، خـــو دا وړ رنګـــین قصـــر مـــې خـــوب کـــې هـــم نـــه ولیـــدلی، هغـــه هـــم بـــې وزلـــي افغانســـتان کـــې، سیاســـي دفتـــر د والـــي صـــاحب شخصـــي دفتـــر او بلاتشبیه جنت و.

پخـــوا بـــه خلـــک بهرنـــی نـــړی تـــه تلـــل د حکومـــت دنـــده بـــه یـــې د کـــم معـــاش لپـــاره پرېښـــوده، خـــو وروســـتي جمهوریـــت کـــې بـــه لـــه لنـــدن او واشـــنګټنه کابـــل تـــه حکـــومتي دنـــدې تـــه تلـــل او ځـــو میاشـــتې وروســـته بـــه یـــې دوبـــۍ او ترکیـــه کـــې د دمه ځای لپاره یو کور  اخسته.

او چې خبره لاړه!!!!

د نظـــام پرځېـــدو لپـــاره یـــې لویـــو یـــو پـــر بـــل پـــړه اچولـــه او وړو یـــې رســـنۍ ملامتـــولې چـــې ګـــواکې حکومـــت یـــې تخریبـــوه، یـــوه هـــم اخلاقـــي جـــرأت ونـــه کـــړ چـــې ووایـــي وطنـــه ومـــو بخښـــه خپـــل کـــور مـــو نـــه ګټلـــې د مـــزدورۍ بـــازار مـــو وې او لوټ شوې.

------------

- ❖ حـــاجي صـــاحب ذبـــیح الله مجاهـــد راتـــه یـــوه مرکـــه کـــې ویلـــي و، د حکومـــت د ټـــاکنو معیـــار یـــې قربـــاني ده. هغـــه وخـــت راســـره یـــوازې دا پوښـــتنه وه چـــې کـــه د قربـــانۍ بـــدل کـــې ځـــوکۍ ترلاســـه کـــوئ د ســـپېڅلي

جنـــګ او د الله د لارې نـــوم مـــو ولـــې کـــاروو، کـــه مـــو ثـــواب لېـــاره جګـــړه کوله نو پر څوکۍ اخستو خو مو ثواب پر سیند لاهو شو.

او نـــن د دغـــه خبـــرې یـــوه بلـــه څنـــډه راتـــه روښـــانه شـــوه، کلـــه چـــې مســـلکي څـــوکۍ د ډلـــې ټپلـــې او قربـــانۍ پـــه نیـــت لـــیلام شـــي د خبـــرې ســـرۍ ورکېـــږي. د کابـــل او اســـلام ابـــاد پـــر ســـوداګرۍ مـــې غوښـــتل یـــو څـــوک وغـــږوم، ویـــل یـــې وزیـــر صـــاحب بوخـــت دی پـــه ټـــول امـــارت کـــې یـــو داســـې څـــوک پیـــدا نشـــو چـــې پر اقتصاد او سوداګرۍ علمي او مسلکي بحث وکړي.

الله دې پر هیواد او خلکو خپل رحم وکړي.

------------

ښې نه ښکاري د وخت د نېزه والو ارادې

تنديه! نو تر کومه پورې ډال به دې ساتم

زما سرکشه سره! څه بې ځایه دې شیندم

پښتون یمه د عقل نه کنګال به دې ساتم

جونګړې ته مې وی چې ورانوي دې یو سړی

چې ور به دې ساتمه که دېوال به دې ساتم

اقبال مومند

------------

- ❖ ســـید جمـــال الـــدین افغـــان پـــورې تړلـــې یـــا تـــړې نکـــل خبـــر ده چـــې ورتـــه وویـــل شـــو، نیـــواکګر لکـــه لیـــوان داســـې دي، د هغـــه ځـــواب و کـــه تاســـو پسونه نه وی لیوان نه درپسې راتله.

ازمایـــل شـــوي، ناکـــام اوفســـاتي خلـــک داســـې نـــه دي چـــې د نیـــوکې حـــق نـــه لـــري یـــا خـــو ښـــه او بـــد نشـــي بیلـــولی، مهـــم یـــې د ژبـــې تـــوري دي چـــې پـــه کـــوم رنـــګ یې اوروي، د عقدې او که د زړه سوي په نیت!؟

------------

❖ ذوالنـــون المصـــري لـــه ۷۹۵ تـــر ۸۵۹ زېږدیـــزو کلونـــو تـــرمنځ ژونـــد کـــړی، د تصـــوف لـــه مخکښـــانو او پوهـــانو یـــو و. مصـــر، شـــام، عـــراق او یـــو څـــه مـــوده مکـــه مکرمـــه کـــې هـــم اوســـېدلی. د اســـلامي فقـــې ترڅنـــګ یـــې کیمـــا او طبـــي علـــوم هـــم لوســـتي و نـــو ځکـــه د هغـــه مهـــال هغـــو ملایـــانو چـــې لـــه عصـــري علومـــو نـــاخبره وو پـــرې د کفـــر تـــور ولګـــوه، ان تـــرې دې چـــې زنـــداني شـــو،خو وروســـته هغـــو کســـانو چـــې د هغـــه اثـــار یـــې لوسته له نامه سره د درناوي الفاظ رحمة الله علیه او نور.. ورتړل.

ښـــاغلی ذوالنـــون صـــوفیزم کـــې د خـــوږې اومینـــه نـــاکې ژبـــې پـــر ځـــایولو هـــم شهرت لري.

یوځای پوښتل کېږي تر ټولو غمجن انسان څوک وي؟

وایي هغه کسان چې بدخویه وي تر ټولو ډېر کړیږي.

د لټۍ او بې کارۍ په تړاو دیني روایتونه خورا څرګند دي.

•د څښتن تعالی د ناخوښۍ وړ ګرځي.

•ټولنه وروسته پاتې کیږي.

•د ژوند له کاروان سره مزل نه کیږي.

او نـــورو تـــه اړ کېـــږي داســـې چـــې لـــه خپـــل ټـــول غـــرور ســـره ناســـازه اقتصـــادي حالت کې د یوې ټولنې، هیواد او فرد په توګه دې لاس بل ته غځیږي.

قـــران کـــریم پـــه روښـــانه ډول کـــار او هڅـــه ســـتایي، ســـوره الـــنجم کـــې الله تعـــالی د انسان د کار او خوارۍ په اړه وایي:

وَأَن لَّيسَ لِلإِنسانِ إِلّا ما سَعىٰ - له هڅې پرته له انسانه د بل څه تمه نشته.

د نـــا انصـــافه انســـان ذلـــت کـــه دوه ورځـــې ناوختـــه هـــم وي خـــو خپـــل برخلیـــک ورسیږي.

د ســـزا ناوختـــه کېـــده د ظـــالم انســـان د کمـــال نښـــه نـــه ده، الله لا ډېـــره موکـــه ورکوي چې دی پکې خپله برخه پوره کړي او بیا یې درنه بدله وګوري.

د سوره آل عمران ۱۷۸ ایة کې په دې تړاو د څښتن تعالی ژمنه روښانه ده.

زموږ رب د انصاف او عدالت ښه پلی کونکی دی.

نهیلي نه ښایي چې دومره لوی ډاډ لرو.

د خلکو کړولو او نا انصافیو لپاره یوازې پاچاهان او حکومتوال مه ملامتوئ. د ځان غوښتني، ماده پرستی او ځان ساتني ناوړه خویونه د انسان له فطرت سره تړلي، که څوک د یوې ژرندې څښتن هم وي په وار ساتلو، وخت ټاکلو او غوراوي کې به ټګي کوي. د لوېدیځ پوهان د خپلې ټولنې اخلاقي نیمګړتیا په ځان غوښتنه کې ګڼي او دا چې څوک څه ډول د خپل ګټو لپاره تر پښو لاندې کړې خو ځان وساتي، سره له دې چې ماده پرستي ان د دوئ د نظامونو برخه هم ګرځېدلې.

حضرت علي کرم الله وجهه د څوکۍ او واک تنده او ساتنه داسې څه ګڼي چې خلک پرې ان خدای هیروي، وایي

د مشرۍ او واک حرص انسان د الله تعالی له مینې اړوي.

نو که څوک ټیټ پوړی یا جګپوړی ، دولتي او نا دولتي چارواکی و دغه ځانګړنه یې فطرتي ده. د الله تعالی پاچاهۍ کې یوازې له ګناهونو او چلونو پاک او معصوم مخلوق ملایکې او پیغمبران دی.

**<u>د دعا په هیله !!!</u>**

**پای.**